

ډاکتر کبیر ستوری
Dr. Kabir Stori
سندریز پیغام
SANDAREEZ PEGHAM
شعري ټولګه
خپرونکی: د پښتونخوا د پوهنې دېره ـ پېښور
Da Pakhtoonkhwa Da Pohane Dera

د کـــتاب ځنګړني

د کتاب نوم:	سـندريز پيغام
شاعر:	ډاکتر کبير سـتوری
خپرندوی:	د پښـتونخوا د پوهنی دېره، پېښـور
چاپ نېټه:	۲۰۰۲ ع
چاپ شـمير:	۱۰۰۰ ټوکه
کمپوز:	ذ. شـفق، خليل الله چمن
چاپ ځای:	دانش کتابتون، پيښـور ـ پښـتونخوا

د انټرنيټ په مخ

کمپوز : نسـيم خان سـتوری

ترتيب : ايمل خان سـتوری

ډالۍ

د پښتو ژبې نامتو شاعر او ليکوال دپښتو نخوا د پوهنې د
دېرې مشر خوږ ملګری لايق زاده لايق ته چې د پښتو په ادب او
هنر کې د نوي پرمختللي خوزښت مخکښ دی.



ډاکتر کبير ستوری

Dr. Kabir Stori
Kiebitzweg 12
50389 Wesseling
Germany (Deutschland)
www.kabirstori.com
E-Mail: stori@kabirstori.com

سرليکونه

سریزه	پښتو	لیونی
شاعر	د مینی ستوری	ډالۍ
د ژوند للمه	ځوانی	پیغام
د و فا دود	ازار	عبادت
د جنت حوری	نشت	د ښایست زور
زاندانی ذهن	په ځان مین	په ګلو کې سندره
د مینی ګلشن	پېزوان	د ځوانی زور
د ناز کاته	شپه	ارمان
د مینی افسانه	د عشق برخه	سوکالي
پسرلی	پت	روغ صورت
مانا	تاریخ	بهانه
لوزونه		د هنر مینه
د عشق افسانه	د ژوند خواږه	تنده او منده
د عشق فلسفی	د محبت تورن	مهلت
ذهنی غلام	پردیس بچی	ګونګه مینه
شکلی جانان	پوهیال	د عقبا حوری
بد بختی	اختر	پښتو ده مینه
بې توری تورزن	د ځنګل قانون	سلا
توان د اتفاق	لباسي یارانه	ښایسته سوچ
د رندو ښار	د اولس مېړنی	جانان
د عشق کاروان	اختر (۲)	د ژوند مستي
سرچپه د ستور	تخیل او حقیقت	وروکی پتوال
ګونګه ژبه	ځان پرستي	نوی ژوند
بر ګودر	د محبت سندر	سربازي
د عقل پېماني	د چیني اوبه	د حرکت فلسفه

د عشق کتاب	نوی کال	د بابا ژبه
تو پانجال	د وینو رنګ	پلو
دیدن	د نظر آزادۍ	داستان
مسته خندا	د ځواني رنګ	د دنګو غرونو وطن
د میني هنر	خمار	قسمت
سیل (۱)	سیل (۲)	د جنګو دوعا
د وفا لور	د جانان سترګي	د درخو خور
د وطن ناوی	تلوار	د ښکلا دری
د سرو شونډو خندا	شمله	د ځان قاتل
د محبت قانون	د کونړ دسینداوبه	پو ښتنه او ځواب
مرور یار	د ښایستونو منجارو	شارېن
دروغجن	سینګار	د میني زور
ریحان	د عشق نغمه	وفا
زړښت	سندريز ماښام	سلما
د میني قانون	غلچکۍ	د غیرت امتحان
د عشق مضمون	سندره	ولولی
خاطر		

د پښتو د اسمان ستوری

درنده ؤ کې زمری، مرغو کې باز دی
پښتانه د انسانانو باچایان دی

د نړۍ دا غوره اولس پښتون څه خپل فطرت وخوړو او څه خپل نیت د پښتنو ستر ملی قهرمان فخر افغان بابا فرمائی چې:
«پښتانه ډیر بې اتفاقه قام دی خو په یوه خبره ئې کلک اتفاق کړی دې چې مونږ به چیرې هم نه متفق کیږو».
دا ژړا د خوشحال خان بابا نه واخله تر ننه کېږي. خو د هاتی په غوږ کې اوده پښتانه هم لا هم هغسې خوبولی دی د خپل ځان، د خپلې ژبې او خپلې خاورې نه بې خبره پښتون په هندوستان څلور سوه کاله خوا ؤ شا حکومت کوي او خپله ژبه نه هسکوی ، دا خو د پښتنو خپله کوتلتیا ده چې د ولس او سرکار له کومکه بغېر ځان ژوندي او ګړندي ساتې.
ما اورېدلې چې کوم قام په ښکته روان وی نو ادب ئې بره روان وي په دې خبره کې څومره صداقت دی نه پوهېږم. خو د شاعر ادیب دا کمال دی چې، دی چیرې هم د خپل قام نه مایوسه کېږی نه، نااميدی دده په کتاب کې نه وي، دی په هر تورتم کې د امید مشالونه بلوي او اولس ويښ ساتي.
د پښتو ادب اسمان د ستورو نه برجت دی. په دغه ستورو کې **ډاکټر کبیر ستوری** یو ځلند او بلند ستوری دی چې د المان د لرې هیواده د خپلو خلقو او خپلې خاورې سر د پښتو په مزی ځان تېنګ تړلې ساتې. داسې ښکاري چې دی اوده کېږی په جرمني کې او په خوبونو کې وینی خپله خاوره او خپل خلق هسی هم په پردیس کې عام سړی د خپل وطن د یادونو او بادونو نه یو ساعت نه وی وزګار او بیا چې سړی شاعر وي نو د شاعر د تصور دنیا خو دومره ویړه او ارته بیرته وي چې بربدونه ئې نه معلومېږي. شاعر هسې هم په وطن سر ورکوي او چې لاترینه لرې هم اوځې نو داسې شې لکه مهی د اوبونه لیری، د **ستوری صیب** د شاعرۍ رغاونه د پښتو او پښتونوالی په توکو شوی ده خپل تهذیب او تمدن، تاریخ او ثقافت ئې په لا شعور کې داسې سنبال دی. چې دی کور ، کلی، حجره او جرګه هم د پښتنو غواړی رواج کلیوالي او دود دستور هم د پښتو غواړی محبوبه هم پښتنه غواړي.

دی خپل قام په امن، مینه، وروروليۍ او سوکالۍ کې لېدل غواړي شته من، ماړه او پتې ئې لېدل غواړي. خپل پیغام په ساده، روانو او سوچه ټکو کې رسول د ده د هنر خاصه ده د مبهم او مهمل خیالونو او لفظونو نه تر ډیره حده ډډه کوي.
ډاکتر کبیر ستوری د خپلې ژبې داسې پتنګ دی چې ددې د سرلوړۍ او پر مختیا د پاره د هیڅ قربانۍ نه مخ نه اړوي. ځان هم شته کول غواړي او قام هم. د لطیف او پراثره شخصیت او هنر دا ساهو تخلیق کار ستوری په اسمانونو کې د اوسېدو په ځای په خپلو لارو ، ولو او غرونو راغو باندې د تصور په وزرو الوت کوي او چې د اولس کومه کړمه، کومه کشاله ویني. رنځیږي، زهیریږي، ژړیږي او بیا هم دغه جذبې د قلم ځوکې ته ورسپاري، لکه د یو زیرک نقاد طنز هم کوي او پیغور هم د خپل قام ستاینه هم کوي او غندنه هم.

ګناه د بل چا نه ده ، دا زمونږ خپله ګناه ده
پښتو پښتونولۍ ته اړولې چې مو شاده

پښتون چې ځوک کړي مشر او خاوند چې د کرسۍ شي
هغه بس ماته کړي دا د خپلې پښتو ملا ده

په عالمي پښتو کانفرنس کې ما د المان دا ستوری د اسمان په ځای په زمکه ولېد ، د ځو ځو ملاقاتونو نه پس زه په دوه کې حیران پاتې شوم چې دی ښه انسان زیات دی او که ښه شاعر.
د ستوری صیب د فکرآلوت که په هر لور وي خو اسمان به د پښتو وي.
ددې ښاغلي هره موضوع د پښتونولۍ په رنګ کې رنګ ده ځکه مونږ دا په ډاډه ویلی شو چې سوچه پښتون شاعر دی.
د ملل متحده د یونیسکو د منشور په رڼا کې دا په ډانګ پئیلی ویلی شوېدي چې بچی ته دې تعلیم د هغه په مورنۍ ژبه کې ورکړي شي ځکه چې زمونږ د ماشومانو زیاتره وخت د نورو ژبو په زده کړه تیرېږي نو علم څه وخت زده کړي. د علم زیلو ته رسېدل په ژبه عبور غواړي.
په نړۍ کې چې کومو هیوادونو ترقي کړېده نو د خپلې ژبې د علم په وجه یې کړېده .
جاپان، چین، جرمني، روس او ټول یورپی ملکونه بچی ته هم د هغه په ژبه کې تعلیم ورکوي. خو زمونږ د وطن واکمن ددې حقیقت نه غاړه غړوي.

خپله ژبه خپله وي، کومه ژبه چې د مور په غېږه کې زده شي هغه په شعور لا شعور دواړو کې خوندي شي. سړی که هر څو نورې ژبې زده کړي خو دا یو نفسیاتي عمل دې چې سوچ په خپله ژبه کې کوي. چې کله غصه شي نو خپله ژبه وائي چې کله خوشحاله شي نو په خپله ژبه ګنېدل غواړي، او که دغه نه وي نو خوب خامخا په خپله مورنۍ ژبه کې ویني.

مونږ بدبخته او ساده ګان پښتانه خپل یار دوست رور عزیز ته چې خط لیکو نو په پردۍ ژبه ئې لیکو. آن تر دې چې د ځان سره په جیب کې د سود سودا او چاي ګوړې حساب کتاب لیکو نو هم رانه خپله ژبه هېره وي، آیا که زمونږ د خپلې ژبې سره د سلوک دا حال وي نو دا به مخ په وړاندې لاړه شي؟ یا به مونږ پر مختګ وکړی شو؟ باچا خان بابا وائی، «کوم قام ته چې خپله ژبه سپکه شي نو هغه قام سپک شي او چې ترینه ژبه ورکه شي نو هغه قام ورک شي» که هر څو دا متل دی «د پښتو کانړی په اوبو کې نه ورستېږي» پښتو ډیره بشپړه ، کوټلې او سپېڅلی ژبه ده پښتانه ډیر پیاوړي او ننګیالي دی خو د ننګ سره چې فرهنګ نه وي چې کلتور او ادب په لور غورځنګ نه وی نو بیا به څه شي.

د قام د ننګ او پت وارثان شاعران ادیبان د خپلې ژبې امانتګر او د خپل ځلنده تاریخ، تهذیب او ثقافت مفسر دی د دوی قلم نه څوک پخولی شي او نه ئې ودرولي شي. د تاریخ هیڅ یوه پاڼه زمونږ په باب تشه نه شي پاتې کېدی تر څو چې اسمان وي تر هغې به ستوری ځلیږي په خپل یو شعر دا خبرې پاې ته رسوم.

حالات که رالـه نـه پـرېـږدی پـه زړونـو کې پـښـتـو
زمـونـږه خو بـهـېـږی پـه رګـونـو کې پـښـتـو

مـــنـــنـــه

ابــاســـیــن یــوســفــزی
پــېـښـور پــوهــنـتـون
۳۰ اګـــســـت ۲۰۰۲

پښتو

ګــنـا د بـــل چـا نــه ده دا زمــونږ خـپـله ګـــنـا ده
پـښـتـو ، پـښـتـو نـولی تـه اړولــی چــې مـو شـا ده

پـښـتـو تـش ژبـه نه ده دا د ژوند ښـکلـې قـانون دي
پـښـتـو اود پـښـتـون تــورو کـې ښـه لـویـه مانـا ده

چې ننګ وکړی جانانه څوک پښتو باندې پښتون شي
پـښـتو پـخپلـه پـت، ښــیـګـړه تــوره او وفـا ده

پـښـتـو چې د پـتـمـن پـښـتـون اولـس د زړګی سرده
د خـپـل وزیـر بـاچـا لـه لاســه ســروهــی تــالا ده

پـښـتـون چې څوک کړي مشر او خاوند شي د کرسۍ
هـغـه بـس مـاتـه کـړي دا د خـپـلـې پـښـتـو مـلا ده

بـاچـیان خو پښتانه تاریخ کې ډیر زیات دي تیر شوي
خــو خـپـلــه پـښـتو ژبــه پـریــښودلـی هـر بـاچــا ده

بـاچـا چـې د کـوم قـام، د قـام پـه ژبـه نــه پـوهـیـږي
دنـیـا کـې بـه څنګ سـیـال شــي تـمه څه د پر مختیا ده

پـښـتـون نـه ، غـیر بـل قام ســتوری دنیا کې چا لیدلی
چې قــام پــــه اقـــتـــدار وي او د ژبـی وتــی ســاده

لېونی

د خپل ځان پېژند تری ورک دی حق حیران دي
خپل نوم نه پېژنی خېری ئې ګریوان دي

کله یو نوم کله بل نوم د ځان بولی
لېونی دی ، ځان ته وائې چې لقمان دي

پردي خپل ګڼی او خپل ورته پردي دي
د خپل ځان قاتل ته وائې چې جانان دي

ستوری غتهو طبیبانو ته مې بوتلو
خو ټول وائې چې ددې رنځ درمل ګران دي

د مېنې ستوری

د ځان مین ته دی شعور د قام د ننګ ورکړه
چې اوده نه شي د مړوند بنګړو ته شرنګ ورکړه

بې پښتو نه شي په پښتو باندې پښتو به کوی
د مینی ستوری ته د خپلې پښتو رنګ ورکړه

شاعر

رقیبه ستا پری څه؟ چې زه ښایست د چا ستا یم
زه یو شاعر یم، ښکلاګانې د دنیا ستا یم

زه تخیل کې د ژوندون نوی ورشو کې ګرزم
د غرو لمنو کې دیرو د پښتنو کې ګرزم
سرود د مینې غږوم د عشق نغمو کې ګرزم
پښتون ځلمی یم، ګل دری د پښتونخوا ستا یم
زه یو شاعر یم، ښکلاګانې د دنیا ستا یم

زه د همت وزر لرمه الوتلې شمه
زه تخیل د حقیقت په تار تړلې شمه
لکه منصور د دار په سر باندې ختلی شمه
د دار په سر هم توری سترګې د اشنا ستا یم
زه یو شاعر یم، ښکلاګانې د دنیا ستا یم

له تا لوګی شم د زړه سره خفه کیږې به نه
یاد کې مې اوسه قسم وکړه چې هېرېږې به نه
ځما د فکر د ورشو ځنې بېلېږې به نه
په دې جذبو به دی په مېنه خامخا ستا یم
زه یو شاعر یم، ښکلاګانې د دنیا ستا یم

زه خپل سوچونه د احساس اور کې سیزلی شمه
په سوز د مینې خپل جانان ته رسېدلی شمه
د جانان غېږ کې اوږدې شپې شوګیرولی شمه
د فن په ژبه باندې ستوری د سبا ستا یم
زه یو شاعر یم، ښکلاګانې د دنیا ستا یم

ډالـــۍ

جــوړه بــه تــپــه د خــپــل مــیــن زړګــي د رازه کـــړم
تــالــه بــه جــانــانــه تــرې ښه ښکلې ډالۍ سازه کړم

وایه راتــه وایــه، چــې پــه کــوم رنګ ئې رنګـینه کړم
مــا ســره جــرګــه شــه چــې زه دا خبــره سپینه کــړم
مـیـنــه کــړمه پــتــه، کــه پــه ډاګه خپـلـه مینه کړم
مــا خـــوتــکـــل کـــړی چـــې د مـیـنـــی لاره وازه کـــړم
تــالــه بــه جــانــانــه تــرې ښه ښکلې ډالۍ سازه کړم

زړه مــې دې پښــتـون پـرېـږده چې مینه پښـتـنه کړمه
پـــت او پـــه وفـــا بـــانـــدې د عـشـق دنیا درنـه کړمه
هـــر څـــه کـــه پـیـښـیـږي زه بـــه دغـــه فـیـصـلـه کړمه
مــال او ســـر بــه دواړه سـپـیـلـنـــی دا ستا د نــازه کــړم
تــالــه بــه جــانــانــه تــرې ښه ښکلې ډالۍ سازه کړم

بــې مـیــنـــې انـسـان ، د قـدرت راز تـه رسـېـدی نشي
پـــتــه د هــدف د ژونــدون ځـــانـــتـه لـــګــوی نـــشـــي
مـیـنـه چې ښـکـاره نـه وی، مـــیـن مـشــهور بـېــدی نشي
سـتوری څه چې لاړ شــو ، دا پــوښــتـنـه د ایـازه کـــړم
تــالــه بــه جــانــانــه تــرې ښه ښکلې ډالۍ سازه کړم

د ژوند لــــلــمه

ښکلا پرسته ده، ښایسته ښکلې جهان غواړي
د محبت جذبه په زړه کې د انسان غواړي

په دې پوهېږي چې بې مینې ژوند ګلان نه نیسي
للمه د ژوند د مینې ښه په شرک باران غواړي

د پـطرو شرنګ باندې اوده زلمی له خوب ویښوي
نوی د مینې پسرلی ، نوی دوران غواړي

د ژوند ، د مینې او ښکلا تر منځ تړون پېژني
مقابله کې د ښکلا ځانته جانان غواړي

د ستوری زړه د عشق قانون کې په دې ګرم مه ګڼې
چې سره ګلونه په موسم کې د خزان غواړي

ځواني

جانان مې ډېره تورو ي دوبار ځواني غواړي
لږ ئې خبر کړي چې ځواني زور جسماني غواړي

په تور اوربل لوبې کول ورته اسانه ندي
د عشق ډګر کې تش په خوله قهرماني غواړي

تللى ځواني بېرته د ډېرې په رنګ کله راځى
د مينى ژوند خو توانونه ربشتياني غواړي

د مينى ژوند کې په ربشتيا باندې چلند دي پکار
معشوقه ګل دي ، عشق د ګلو باغواني غواړي

پرېږده چې ورېځې وى اسمان کې ، ستورى پټ وي پکې
دا جل وهلې بڼ موسم ښه باراني غواړي

پیغام

راته پاتې له لویانو دا پیغام دی
چې د بل په درناوی کې درونــد مقام دی

که نظر دی خپل او چت ساتی نو پوه شه
چې لازم د بل نظر ته احترام دی

د نیم ډک او د نیم تش جام بیلګه ګوره
چې منفی او هم مثبت رنګ د کلام دی

خیرخواهان وایي جام ډک نیم د اوبو دی
بدخواهان وایي نیم تش د اوبو جام دی

چې د بل په سپکاوی کې درنښت غواړې
درونــد به نه شي تل پدې کارکې ناکام دی

چې د بل د غلامۍ سوچ لری سرکې
ازاد نه دی، د ده هم ذهن غلام دی

ستوری وایې دا منلی تول جهان دی
خپلواکې بنیادی حق د هر یو قام دی

د وفا دود

خیال تصور دی که رښتیا ده
خواله راځی ، خواله درځمه
د عقل زړه سره سلا ده
چیرته چې ځې درسره ځمه
مینه ښکلا ده، ښکلا مینه
دنیا ئې کله بېلوینه
ښکلا د مینی نه پیدا ده
پریږده چې ښکلې ښکلوومه
خیال تصور دی که رښتیا ده
خواله راځی ، خواله درځمه
پښتو چې ښکلو سره مل شی
د ښایست زورئې یو په سل شي
په پښتو ښکلې هره خوا ده
ځکه تری سر خپل زاروومه

خیال تصور دی که رښتیا ده
خواله راځی ، خواله درځمه
د ستوری مینه پښتنه ده
پت او ښیګړه ده درنه ده
ختهٔ ئې جوړه له وفا ده
د وفا دود نه ماتوومه
خیال تصور دی که رښتیا ده
خواله راځی ، خواله درځمه

ازار

د بل زړه ازارول چاره خطا ده
خو ازار د مور او پلار لویه ګنا ده

چې ازار د مور او پلار وی څوک وهلی
د بخت ستوری ئې تورتم وی دا رښتیا ده

عبادت

محتاج کله د انسان د زیار زحمت دی
بې نیازه دی د خدای بې شان قدرت دی

عبادت د مینې نوم دی دا منمه
نیکمرغی د انسان مینه او محبت دی

عبادت زاهده ستا سوال او زاری ده
په ما هسې د خدای ډېر زیات شفقت دی

چې ئې نه لری هغه ئې د خدای غواړي
چې لری ئې د غوښتو ئې څه حاجت دی

د چا ستوری د بخت رون د چا تیاره دی
د عمل هومره د هر چا خپل قسمت دی

د جنت حورې

څه پروا ځما د حورو د عقبا شته
د جنت له حورو ښکلې په دنیا شته

چې دا ښکلې خدای زما په نصیب کړي
راته وواېه د حورو څه اړتیا شته

جنتونه تري همه واړه قربان شه
چې جنت ځما د مینې پښتونخوا شته

سترګې وغړوه نیمه شپه کې ګوره
چې د ستورو د اسمان خومره ښکلا شته

نشت

لږ د نشت نه ډېر دی که ټول نه وی لږ به تل کوی
رسی به منزل ته چې ولاړ نه ئې مزل کوی

غېږ ته د جانان ورتله جرات عمل خوزښت غواړي
هسې په خوله نه شي چې په خوله ورته ورتلل کوی

مینه د جانان کې هم خوند و نه هم درد و نه شته
خوند که اخستل غواړي د درد به هم زغمل کوی

د مینی پشکال کې چې و نه سوځی په اور کې
ستوری باندې سیوری به د څڼو د اوربل کوی

د ښایست زور

غلی اشاری کوی اشنا راته څه وایي
په زړه ئي څه خبره ده تنها راته څه وایي

نازونه ئي په سر سترګو ما هر وخت دی منلی
د زړه په غوږ ئي اورم چي د چا راته څه وایي

غوټۍ د ارمانونو ځما وسپړی ګلونه
پیرزو چي په ما وکړی په مسکا راته څه وایي

څو مره چي ئي اورم هرمره لا پسي مزه که
چي کله د پښتو او پښتونخوا راته څه وایي

زه ستوری ئي د مینی په خبرو نه مړیږم
د خپل ښایست د زور که د وفا راته څه وایي

زاندانی ذهن

عجیبه غوندی د ستور د زمانی شو
چې زاهد لاړو ساقي د میخانې شو

ساقی کیناسته د شیخ په ځای محراب کې
رنګ بدل هم د بلبل د ترانی شو

ذهن شو د زرغلام تلل په زرکړی
سړیتوب د زر په کچ او پیمانی شو

د بدرنګ او د ښایسته توپیر هم زر کړی
ښایسته دی چې خاوند د خزانی شو

چې ئې ذهن ستوری لاړو زندانی شو
حاجت ورک نور د پښو د زلوانی شو

په ځان مين

په ځان دوهره مين شو چې جهان ئې نه لېده
جهان لا څه کوی چې خپله ځان ئې نه لېده

قاتله ئې د ځان او د جانان وه د ځان مينه
لمبه لمبه ارمان سره ارمان ئې نه لېده

د ځان د مينی اور کې ئې نظر وسوځېده
سور ټيک ، د زنی خال ، مخ د جانان ئې نه لېده

جذبې د ځان د مينی ئې بينا سترګې ړندی کړی
د ګلو مېنځ کې ناست و خو ګلان ئې نه لېده

ژوندي په مړ حساب دي د رڼا نه شو بې برخې
ځلانده، رڼا ستوری د اسمان ئې نه لېده

په ګلو کې سـنـدره

زړه مـې راتـه وايـې د بـلـبـل سـره جـرګـه وکا
ګل وکره ژونـد کـې چې مين ئـې نـنداره وکـا

بيا پـه چکر راشـه چې بـورا دی هـر کـلـی وکـړی
ورک به دی غمونـه شـي چې ګـل خوږه وږمـه وکا

پـريـږده چـې د ګل بـوټـی نـه جـوړه غـټـه ونه شي
سـتـړی ددی لاری بـه ئـې سـيـوری تـه دمه وکـا

نـيـمه شپه پـه کـلـو کـې سـنـدري خـونـدوری وی
تـه پـه کـې د سـوچ د ازادۍ يـوه ټـپـه وکـا

مست د کونړ سيند به دی لاهو کړی په خيالـونـو کې
مـه ځـه پوری کـلـی تـه د ستوری سره شپه وکـا

د مینې ګلشن

غم به په غم باندې امبار کړمه
ځان به د غمه نه وزګار کړمه

نور به د ښکلو په محفل کې ګرځم
ګلشن د مینې به تیار کړمه

ښکلې مې خوښ دي چې پښتو ولري
غواړم چې ځان ئې خد متګار کړمه

تش ژبه نه ده دود د ستور دی ځما
تل په پښتو مې کاروبار کړمه

چې پښتو ورکه شي پښتون ورکېږی
ځکه د مینې ئې اظهار کړمه

سر به ځما ستورو ته ورسېږی
چې سر د خپلې پښتو زار کړمه

پېزوان

په مندېه لاړه په کوڅه کې ئې جانان پاتی دی
بیرته به راشي په ګودر کې ئې پیزوان پاتی دی

ملګرو کړد مینی وکړی چې زرغون شي وطن
په محبت او مینه تل جهان ودان پاتی دی

زر نه زړېږی د چا زړه چې وی له مینی نه ډک
دا خو د مینی د ځوانۍ سره پیمان پاتی دی

په بوډاګانو کې چې ستوری چیری ونه شمیرۍ
خیر دی که ږیره ئې شوه سپینه سوچ ئې ځوان پاتی دی

د ځوانۍ زور

ماتــه چـې ګـودر پــه غــاړه غـلـی په خنـدا شـوله
مـخ کې ئـې د مـینـی محبت سرخی پــیدا شـولــه

زه ئې د سور ټیک او د شیـن خــال پــه نـنداره ومــه
خــلـکـو راکـتـلـی پـټـه مـینـه مـې رسـوا شـولـه

نــاز او اداګـانـــی د ښــکـلا سـره مـلـګــری وی
هــر یـوه ادا ئــې د ښـکـلا سـره ښـکـلا شــولـه

زور ئـې د ځـوانـی د مـیــنـی جـوش راپـــارولــې و
ځوانه ئې مـستـي وه پـه مسـتـۍ کې پـه نـخـا شـولـه

ستوری چې راوختل د شپی تیاری خوری شولی
خواته شوه راوړاندې په ذکات د خولی رضا شوله

شـــپـــه

ګیلـی دې پـربـېږده راتـه وخـانده چې وخـانده مه
تـل پــه خــفـګـان کـې خـو خـوک ژوند نـه کـوی

چې ستوری ښکاري او سپوږمۍ اسمان کې وي ولاړه
پــه داســې شـپـه کـې ژړا خــونـد نـه کـوي

د نــاز کــاتــه

ګــلـبـڼ وی د بلبلــو بــس یــوازی زه او تـــه وی
دا ستا د تـورو زلفو د اوربل لانــدې مې شــپــه وی
نـو دا بـه ډ پــره ښــه وی
نـــو دا بـه ډ پــره ښــه وی

ډ یـــوه د ښـکلـې مــخ دې بـلـید لـې په تورتـم کې
د ګـلــو پـه وږمــو کــې زما تــا ســره جـــرګــه وی
نـو دا بـه ډ پــره ښــه وی
نـــو دا بـه ډ پــره ښــه وی

کـیســی د محبت وی بل مضمون په مینځ کې نه وی
د سترګـو پـه کـکـو کې پـه زیر زیـر د نـازکـاتـه وی
نـو دا بـه ډ پــره ښــه وی
نـــو دا بـه ډ پــره ښــه وی

بالښـت مې ستا څنګل وی او ما سر وی پکې ایښی
دنـــیا نـــه نــا خـــبره او د مـیـنـــی ولــولـــه وی
نـو دا بـه ډ پــره ښــه وی
نـــو دا بـه ډ پــره ښــه وی

بلبلی ګـډ یدلې کارغـان تـلـلـی وی لـه بـــنـه
د ســـتورو اتـــنـهـــونـه وی هـم مـینـه پـښتـنـه وی
نـو دا بـه ډ پــره ښــه وی
نـــو دا بـه ډ پــره ښــه وی

د خالونو نوکران

ټول ټبر ئې فخر په اوږدو ښکلو ویښتو کوي
هر مازیګری ورته لوګی د سپېلنو کوي

ډېره نازولې ده د مور او پلار نیازبېنه ده
قدر ئې پخپل کور کې په شان د مېلمنو کوي

چا چې ده لېد لی په ستاېلو ئې مرېږي نه
یو خوا ئې ښایست دی بل صفت ئې د پښتو کوي

ډېر زیات عاشقان ئې د خالونو خد متګار دي
خدای خبر په کوم یو به د سپیني خولې پېرزو کوي

هسې خلک وائې چې د مینې دود بدل شولو
نه ګوري ښایست ته څوک نظر ئې په پیسو کوي

دا د مینې زور د زړه راښکونکو ښایستونو دي
ځینې عاشقان چې نوکري د معشوقو کوي

دري او په څلورو معشوقو لا شیخ قانع ندی
هره ورځ دعا کې سوال د حورو د کمڅو کوي

ستوري په وطن مین دی نه دی په شین خال مین
ټوله شپه ګزمه د پښتونخوا په سر درو کوي

ارمان

چې هر څو تجربه کار او لوی پوهان شو
چې بوډا شو د ځوانۍ خپل په ارمان شو

تجربه چې د بوډا زور د ځوانۍ وي
بیا ئې وګڼه چې ستوری د اسمان شو

د مینې افسانه

خان په لکونو اخیسته جانان وړیا واخیست
سودا د عشق کې سوداېې شو خان سودا واخیست

غرور د مینې د دولت زور ته سر نه ټیټوي
نوی لاځه کوی چې لاس تری زوړ اشنا واخیست

زه خو مین یم معشوقه مې د ښایست جوړه ده
ما ښایستونو کې ښایست د پښتونخوا واخیست

خوله مې خطا نه شوه، په زړه کې ئې ساتلی نه شم
نوم د جانان چې مې په ډاګه بر ملا واخیست

د خپلې مینې اظهار نور د لیک په ژبه کوی
لاس کې قلم او کاغذ ستوري د سبا واخیست

د عشـــق برخه

د سـرو سـره چـې کـيـنـی، سـرې کـيـږی
هـر مـجـلـس لـری تـاثـیـر، کـه څـوک پـوهـیـږی

چـې خـدای چـالـره احـسـاس د مـیـنـی ورکـړی
نـو ئـې زړه بـیـا د جـانـانـه نـه صـبـریـږی

زه دنـیـا کـې ، تـه عـقـبـا کـې جـانـان غـواړي
شـیـخـه سـتـا او ځـمـا کـلـی کـلـه کـېـږي

ځـمـا عـشـق حـقـیـقـی، سـتـا مـجـازی دی
حـقـیـقـت کـلـه مـجـاز سـره سـمـېـږی

د عـشـق کـار کـې د هـر چـا ده بـیـلـه بـرخـه
د چـا سـتـوری دی تـیـاره، د چـا ځـلـیـږی

سوکالي

بې پښتون نه سوکالي د وطن نه شته
بې له مينې خوشحالي د مين نه شته

د ژوندون د سبا جوړې هنگامې دي
هنگامې د سبا چا ويل چې نن نه شته

بلبلان خو ډلې ډلې پکې گرزي
پابندي نوره د عشق په چمن نه شته

اې ناصحه خوله دې چوپ که ستوری وائي
دلته ستا د ويناگانو شوقمن نه شته

پسرلی

پسرلی د ګل ځوانـي ده یـو ځـو ورځـي وی تـېریـږي
زه هغه پسرلی غـوارم چـې تـل ځـوان وي نـه زړېـږي

چې د مینی پاچاهی وي جذبـه زړه کې د وروری وي
امـن راشـي بیا وطـن ته، د زیاتی کـډی بـارېږي

پـه نـظر پـابـندی نـه وی د هـر چـا نـظـر آزد وي
کـه بـاچـا وي کـه ګـداوي، یـو شـان حـق لري ګرېـږي

ستوری رونړ د خپلواکی وی، خوشحالی وي کـور پـه کور
د پښتـو چـمن سمـسـور وی او پښتون بلبل چـغـېږي

مانا

پـــه لـفـظـونـو مـیـــن نـه یـم پـه مـانـا یــم
خـو لـفـظـونـو کـې مـې ښـه مـانـا خـوښـېږي

ښـایست ستـا جانانه لویه معجزه ده
یـاد لـفـظـونـو کـې د سـتـوری نـه ځـائـېږي

پـــت

څـــه بـــه کـانــدی شـــتـمـــنـــی د مــــال دولـــــت
شـــتــــمـــــنـــــی چـــې نــلـــري دروغ صــــورت

شـــتـمـــنــی دروغ صـــورت لـــه دولـــت ښـــه ده
بـــيـــا لــــه دې ښـــه عـــقـــل پـــوهـــه او عـــزت

بـــې عـــزتـــه او بـــې پـــتـــه ژونــد خـــونـــد نـه کـا
پـــــت دی ټـــولـــو شـــتـمـنـيـــو کـــې اوچـــت

چـــې د پـــت او عـــزت ژونـــد پـــرې ارام وکـــړي
خـــدايـــه ورکـــړی دو مـــره ســـتـوری تـــه طـاقـــت

روغ صـــورت

روغ صـــورت چـــې نـــه وي مـال او دولت څه دي ؟
دولـــت نـــه غـــوارم، هـــســـتـــی دروغ صـــورت را

چـې د خـــپـلـــې پـــښـتـو مـــيـــنـه پـــرې وپـــالـــم
پـــاکــــه ربــــه دومـــــره مـــــتـهـــو کـــې قـــوت را

تاریخ

تېر چې شو تاریخ شو خیال د نن او د سبا کوه
هر کار د ملګرو او مشرانو په سلا کوه

پند و اخله تاریخ نه څه چې تېر شو بدلېدی نه شي
اوس به څه کوی ددی پوښتني نه بینا کوه

نه دي ژوندي شوی چیرته مړی په ژړا باندې
مړي دی خدای وبخښي مړو ته دوعا کوه

پام کوه په نوی کول چې دا ګلان تالا نه شي
هر څه چې کوی سوچ د ژوندون د پرمختیا کوه

خپلو هېره کړیده د حال ئې نا خبره دي
لږ شانی تپوس خو د پښتو او پښتونخوا کوه

پوهه دی څراغ که چې د ژوند تیاری روښانه شي
ستوری د اسمان شه لاندې ځمکې ته رڼا کوه

بهانه

په نیمه شپه راپاخېده نیازبینه په بهانه
دیدن ته د یار لاړه نازنینه په بهانه

ریبار سره وتلی وه ګلبنۍ ته غلي غلي
چکر د پسرلي ته ګل ورینه په بهانه

ما خوب کې وه لېدلی چې ئې پرېښودم یوازې
جرګه را سره نه شوه لونګینه په بهانه

پلو لاندې ئې وکتل خو مخ ئې رانه پټ کړ
په تور د مینې توره ماجبینه په بهانه

پرون چې ورته لاره کې په مخه باندې راغله
د ستوری سره تم نه شوه حسینه په بهانه

لــوزونــه

چې رنګ دې د ځوانۍ په خپل رخسار کې خـنـدوی
قسم دی چې ښـایـسـت دی پــه څو چــنـده زیـاتــوی

زرګونه عـاشـقـان بــه دی د مــیــنــی طـلـبـګـاروي
چــــې تــه د مــیــنــی اوره ارمـــانـــونـــه ســــوزوی

قـاضی ته حاجت نشـتـه، بیا به ستا حکـم چـلـېـږي
پـخــپـلـه رضا خــوښــه بــیـا کــوه چــې څــه کــوی

د ســتــورو پـه رڼـا کـې بــه مـې کـلـی تــه رادرومــې
ځـــمـــا ســـره جـــانـــانـــه بـــه لــوزونـــه پـــخـــوی

د هنر مینه

چې ګرزېدل ئې زده کول، ډیر غورځېدلی دې
بیا پاڅېدلی دې، په وړاندې تللی دې

چې غورځېدلو کې ماهر شو ګرزېدل ئې زده کړل
د زده کړی فن کې د ژوند راز ته رسېدلی دې

پښتنی مور ورته د ننګ او پښتو درس ورکړی
د پښتونوالی په قانون یې پوهولی دې

د وطن مینه کې پروا د ګړنګونو نکړی
خپلې پښتو د ګړنګونو پورا یستلی دې

ستوري حجرو د تنګ تکور سیلونه ډېر کړېدی
د هنر مینی شاعری ته هڅولی دې

د ژوند خواږه

پښتانه دې په خوږو د ژوند ماړه شي
هر پښتون دې د پښتو په غېږ کې شته شي

چې «سلما» او «پوهیال» پرې خوشحالېږي
مبارک دی د «نسیم ستوری» واده شي

د عشق افسانه

بدله زمانه شوه اړوی د یارانی رنګ
نغمه د ژوند شوه نوی، نوی شو د ترانی رنګ

مین شو بې ریباره مخامخ خبری کېږي
ښکارېږي چې بدلېږي نور د عشق دافسانې رنګ

زړی شولی نا چلی، تول په نوو پیمانو شي
سوچونه شولو نوی، ګلګون شو د پیمانی رنګ

یو غلی اوښتون دي چې ذهنونه ویښوي
جام نوی، ساقی نوی، نوی شو د میخانی رنګ

شپه تېره شوه سبا دی د سهر ستوری راخېژي
سازونه شولو نوی، نوی شو د زمانې رنګ

ټنده او منډه

یو ویل په ټنده ده په منډه نده
بل ویل په منډه ده په ټنده نده

ستوری ویل ماته خو داسمه بریښی
په دواړو ده په یو کې غونډه نده

د عشــق فـلــسـفـی

د عــشـق فـلـسـفـی شــي چـــې فـکـرونــه وسـېــزي
پـه اور د خـپـل احـسـاس کـې دلـــيـلـونـه وســېــزي

د زړه او د دمـــاغ کـلــی د عـشـق دنــيـا کـې نـــشـي
احساس د زړه غالب شي ، ټول سـوچــونـه وسـيزي

پـنـدونه دی ناصـحـه د مـيــنـو نــه پـه خـنـګ کــه
پـه سـوز کـــې بـــه د مـيــنــی دی پـنـدونـه وســـېـزي

پـروا د مـال دولـت کـلـه کـوي ملـــنـګ د مـيــنـی
کـچـکـول د مـحـــبـت کـــې دولـــتـونـه وســـېـزي

د ســتوری نـــه د غــم پـــوښـتـنـه مه کـــوه جانانه
ســتا غــم چې زړه تــه راشي ټــول غـمـونـه وسـېـزي

يادونه: فلسفه پوه يا فيلسوف

د محبت تورن

څه عجب غوندې قانون ددې وطن دی
په ګلبڼ کې د طوطیانو زاغ واکمن دی

یا به مري یا به توبه کړي له سندرو
چې بلبل او غزل خوان ددې چمن دی

د پیشو سره د مږې یارانه ده
په تګې او په چل ول د ژوند چلن دی

د ریښتینی عاشق دلته ګذران ګران دی
چې په مینه او ریښتیا باندې پتمن دی

خامخا به له نفرت ئې زړه خالی وي
چې په تور د محبت ستوری تورن دی

مهلت

پیدا ینبت سره پلان د مرګ هم جوړ شو
ژوند د مرګ او پیدا ینبت تر مینځ مهلت دی

دې مهلت نه ګټه واخله که پوهېږې
خوشبختې د انسان مینه او محبت دی

پردیس بچی

جوړ به په تندی چپه کاکل کړمه
ګل به دې د ښو د اوربل کړمه

رنګ به د پښتو مینی ته ورکړمه
دا پردیس بچی به خپل راخپل کړمه

پوهه به «پوهیال» سره ملګری کړم
پت به د «پتوال» د پتکی ول کړمه

تل خو به خاطر د « خاطری» کوم
«ښکلي» رانژدې شه چې دې ښکل کړمه

خیال به په «سوما»او په« هما» ساتم
پوخ به د «یما»، «سنګر» مورچل کړمه

دې پردې وطن کې چې پردې نه شي
پام به په روزنه د «ایمل» کړمه

دا یوه بیلګه ده د پردیس بچو
نور پردیس بچی به یاد بل ځل کړمه

دا د سبا ستوری دی راخیږی به
دا تورتم ژوندون به پرې بدل کړمه

غږ د ازادۍ به انګازه کړمه
جوړ د انګازی نه به غزل کړمه

لوی به ئې دیرو د پښتنو کې کړم
تنګ تکور رباب به ورسه مل کړمه

ستوری به رڼا راته د شپې کوی
او ربه د رقیب په زړګی بل کړمه

ذهنی غلام

نه د ځان پکاربدی شي نه د قام
خدای دې مه کړه د پردو ذهنی غلام

د پردو ذهنی غلام ځان ازاد بولی
ما د ستوری اوربد لی دا کلام

ګونګه مېينه

سوى جل وهلى د ازاد ژوند ګل درى دې
څه چې څو جانانه دلته ګرانى زمونږ شپى دې

دلته چې او سېږى څوک بد ته به تل ښه وائې
دلته چې ګرېږى څوک خپله ژبه نه وائې

دلته ازاد سوچ ته ودريدلى غرغرى دې
څه چې څو جانانه دلته ګرانى زمونږ شپى دې

دلته دى ړانده مين، نه وينى د يار ښکلا
دلته دى كاڼه مين، نه اورى د بنګړو شرنګار

دلته مينه ګونګه ده هسى اشارى دې
څه چې څو جانانه دلته ګرانى زمونږ شپى دې

ستورى وائې دلته د پښتون بلبل چغار نشته
شيخ او په زاهد باندې باور او عتبار نشته

خورى حرامى غوښې خو په لاس کې ئې تسپى دې
څه چې څو جانانه دلته ګرانى زمونږ شپى دې

ښکلی جانان

خو به زلفی ئې په خیال کې لوبوومه
د خپل خیاله حقیقت نور جوړومه

باده راشه تا د ځانه سره بیایم
د خپل کلي په کوځو دی ګرزومه

سر به کړو ښکاره ځما ښکلي جانان ته
که ته ځې بیا ځه، زه بېرته نه راځمه

یا به زه هم د خپل خیاله سره خیال شم
یا به ستوری د بیلتون راغورځومه

د عقبا حوری

ته چې لاس دوعا ته جګ کړی ټول پوهېږي
چې دې حوری د عقبا شیخه یادېږي

چې خدای ستوری ته پدې دنیا ورکړي
نو دا ستا وربانديې ولې نه لورېږي

پوهیــال

د پــــت، ښـــېـــګـړی او لـــه تـــوری جـــوړه یـــاره
پوهیاله وفاداره، ننګیاله لوئ پښتون شی !

لیری بهر له پښتونخوا
پردی وطن کې شوی پیدا
خو پښتو ژبه زده کړه تا

پښتو کول دی هم زده کړیدی له پلاره
پوهیاله وفاداره، ننګیاله لوئ پښتون شی !

پیدا ایښتی پیدا هوښیار ئې
په هر یو کار کې استاد کار ئې
رښتیا پوهیاله پوهنیار ئې

پوهه دی ګل شه د قامی خدمت د پاره
پوهیاله وفاداره، ننګیاله لوئ پښتون شی !

ته په پښتو ژبه ګړېږی
په جرمنی لا نه پوهېږی
پدې د ټول ټبر خوښېږی

په پښتو پال زړه کې د ستوری جوړی لاره
پوهیاله وفاداره، ننګیاله لوئ پښتون شی !

بد بختي

چې له ژبې او کلتور خپل نه جدا شي
په ذهني کړکېچ اخته به خامخا شي

له دې غټه بد بختي په دنیا نشته
چې قاتل څوک د خپله ځان او داشنا شي

اختر

مبارک دې لوی ورو ته دا اختر شي
هر یوه ته دې نیک مرغ او بختور شي

ستوری ! ویل اختر به لا نور خوندور شي
چې دا ټول پښتانه غونډ په یو ټغر شي

پښتو ده مینه

پښتو کوم، پښتو پالم پښتون ځلمی یمه زه
د پښتو سر خپل زاروم د قام بچی یمه زه

د آزادۍ او خپلواکۍ نشه په سر کې لرم
د غرو لمنو کې او سېږم غرنی یمه زه

د اتفاق او ورورولۍ تخم مالت کې کرم
وږمه د سولی خپرومه پسرلی یمه زه

پښتنی مور پیو کې ځواک د قربانۍ راکړی
د قام وطن او د پښتو نه سپیلنی یمه زه

پښتو ده مینه، چې د مینی ستوری تل ځلاند وي
خدمت د مینی به کوم چې څو ژوندی یمه زه

بې نوري تــورزن

چــې تـــوره نـــلـري او بـــې تــوری تـورزن ګــرزي
پـدې جامـه کې خـو د کـلـی تهـول دروغــجــن ګــرزي

پخوا ئې بل ته، بيا ئې يار ته، اوس په يار وائې دروغ
دا رنګ دروغـجـن خـو يـارانه کې مخ تورن ګــرزي

په دروغو جوړ جهان د مـينـی خـو پـايــښـت نــلــري
دروغـجـن مـيـن پـدې جهـان کـې کــرغــېړن ګــرزي

سـتـوری بې پت دروغـجـن د مينـی جو ګـه کلـه ګـنې
مـيــــنه د پــــت خـــبـره ده، مــيـــن پـــتـمـن ګــرزي

د ځنګل قانون

انسانیت له انسانانو نه بېلېږي
دې دنیا کې د ځنګل قانون چلېږي

ساتندوی چې د حقوقو د انسانو
اوس ئې خپله دا حقوق په لاس ماتېږي

توپېر ورک د مدنیت او د وحشت شو
مدنیت بیرته وحشت باندې بدلېږي

انصاف وتی دی د لفظ د انصاف نه
عدالت دی ناچل شوی نه چلېږي

بې منطقه شو منطق فلسفه پوچ شوه
خدای دې خېر کړي ستوری نور به څه پېښېږي

سـلا

لکه چې زړه دی ځما زړه سره سلا کړېده
ځما په زړه چې وه هغه خبره تا کړېده

نور دربار د درلیږلو حاجت پاتی نه شو
وعده د مینی دی په ډاګه په رښتیا کړېده

د ګل ښایست نه چې په بڼ کې بلبلان زاریږي
پور دې ورکړی دې که ګل د ښایست غلا کړېده

نور به رقیب او غمازان د کلی واړه تښتی
چې اوریدلی دی، تابیا خوښه ځما کړېده

چې د بخت ستوری مې د عشق اسمان کې وځلېدو
خدایګو د کلی لویو ورو راته دعا کړېده

تــوان د اتــفــاق

دا ملنګ د مینې دی، نه مال او نه دولت غواړي
زړه کې د انسان جذ به د مینې محبت غواړي

وائي پښتانه په ځانځانۍ کې غورېدی نه شي
سوچ کې ئې توان د اتفاق او دوحدت غواړي

هم په انسانی حقوقو ننګه او پښتو کوي
هر یوه انسان ته ژوند د پت او دعزت غواړي

کلی نه وزی خوله اولسه وتل نه منی
تل په ټولنیز ژوند کې انصاف او عدالت غوړي

مینه ئې د سولې، ازادۍ سره تړلی ده
ستوری دې د سولې د نفرت ځینې نفرت غواړي

لباسي یارانه

د مینې دود بدلېږي لباسي شوه یارانه
په زړه باندې یوه او په خوله بله ترانه

ملنګ له ښکلو خیر غواړي ساقي د میخانی شو
په غاړه کې کچکول دی او په لاس کې پیمانه

ساقی تسبې راخستې د جماعت په ګوټ کې ناست دی
په نوم د جانان اړوي یوه یوه دانه

باور د معشوقو په عاشقانو باندې کم شو
له زلفو جوړوي چې خپل جانان ته زلوانه

اخلاص کډه کوي درومي یارانو د محفل نه
وینا او عمل شولو یو د بله بیګانه

بیګا ستوری ولاړو چې د بري ته زمونږ راغله
تکل ئې د جنګ کړی و د سولې په بهانه

ښایسته سوچ

سوچ چې زلمی شي نو د خپل ښایست رڼا کې اوسي
مینه چې ځوانه شي نو لته د ښکلا کې اوسي

سوچ چې ښایسته شي ارادې د زور زیاتي نه مني
که دا په زړه کې د اغیار که د اشنا کې اوسي

د سوچ ښایست لا پسې زیات شي چې د مینې شي مل
شي ملکه د ښایست بیا زړه د هر چا کې اوسي

چې ملکې د ښایست ټولې په تعظیم دي ورته
هغه ښایست خو سردرو د پښتونخوا کې اوسي

د پښتنې ښایست چې ستورې ! پلوشې خپرې کړې
رقیبان واړه سودایي شو په سودا کې اوسي

د ړنــدو ښــار

د ړنــدو ښــار دی دلــته ښکلو ته کتل نه کړي څوک
سترګې دي پټې کړه څه مه وینه لیدل نه کـړي څوک

دلـته د شـپې ورځی تـو پـیر نه شته دی ورځ هم شپه ده
د تـورې شـپې نـه رڼـا ورځـی بـېلول نـه کړي څوک

دلـته پـردی پـېژنـد چلـېـږي خپل پـېژند نه شته دی
پـه خـپـلـه نـامـه بـاندې د ځان هم نومول نه کړي څـوک

دلـته غـوږونه اوریدلی شي خولې ګونګـې نه دي
خلک هر څه وائی خو صرف رښتیا ویل نه کړي څـوک

دلـتـه پـوهـان او لـیـکوالان ړانـده دي نه ویـنـي هـیـڅ
سـتـوري ! ته ووایه څه مه لیکه لوستل نه کړي څوک

د اولس مېړنی

د پـردو چې څـوک تـقـلـیـد کـوی، پـردی شـي
چـې د خـپـلـو کـړي پـالـنه مـېـړنـی شي

مـېـړنـی د اولـس نـه مـري تـل ژونـدی وي
که هـر څـو د ځـمـکـې لاندې ئـې کـورګـی شي

معنوي پانګه چې څوک خـپـل قـام تـه پـرېـږدی
د قـامـي ذهـن نـه کـلـه بـیـا وتـی شـي

پـه تـاریـخ کې د غـیـرت بـه ئـې نـوم یـادوي
چـې د قـام او د وطـن نـه څـوک لـوګـی شـي

چې د پـت، ښـېـګـړي، تـورې، وفـا جـوړ وي
هـغـه ستـوری پـه اسـمـان کـې ځـلـېدی شـي

جانان

مینه چې وي مینه په پلکونو نه ماتېږي
تل د سره تېره یو تر بله نه ځارېږي

لاره د جانان د کور چې چا ته شي په نښه
ځي راځي مسکی شي د غه لاره کې ودرېږي

وینه مې د پت او د پښتو په نامه زار کړی
ځار چې له پښتو شي زړه مې داسې خوشحالېږي

تورو بلاګانو تورتمونو ته اجل دی
رونړ د سبا ستوری ! دی رڼا کوي ځلېږي

د عشق کاروان

مینه د ژوند ساه ده بې د مینې ژوند او چیرې
چیرته چې وي مینه ژوندون وده کړي غوړیږي

نه شي د نفرت او مینې دواړو سره کلی
مینه چې وي زړه کې د نفرت کډې باریږي

زور ازمایښت شوی دی د زور نتیجه زور ده
ربړې خو د ژوند د محبت په لار حل کیږي

چا چې لار د سولې او محبت ټینګه نیولې ده
رسي به منزل ته که ستومان نه شي خوځیږي

زه د عاشقانو د کاروان سره روان یمه
نشته دی ډیوې ته حاجت ستوری ! چې ځلیږي

اختر (۲)

ورځ د اختر کې پیوستون مرور زړونه کوي
غاړه غړې شي د یووالي تړونونه کوي

نفاق د کلي نه شړي د اتفاق په توره
مبارکۍ کې د اخلاص خپل سوګندونه کوي

فکر له بنده را خلاص شوی دی ازاد ګرزي
خیال سره مل دی نوي نوي نوښتونه کوي

عقل د زړه احساس کې سیزي چې پخه شي مینه
د شپې د ستورو سره د نګو غرو سپلونه کوي

د ژوند مستي

خپلې کوډلې نه د عشق په فن محل جوړ کړه
خيالي تصوير پکې د ښځو د اوربل جوړ کړه

چې د ښمنانو نه د مينې مين وژغورل شي
د پښتنې مينې د تيرو ټينګ مورچل جوړ کړه

چې بوډاګان پکې ځوانان شي هيلې هم شي پېغلې
رنګ رنګونونه د عشق دباغچې ګل جوړ کړه

ستوري ته وايه چې مستي د ژوند تمامه نه شي
چې بې شرابو محفل مست کړي مست غزل جوړ کړه

سرچپه د ستور

چې رڼا ورځ توره تیاره شي وایه بیا به څه کړې
د ژوند د ستور که سر چپه شي وایه بیا به څه کړې

چې د وفا ځای جفا ونیسي په ټوکو ټوکو
چې دې اشنا سره پتنه شي وایه بیا به څه کړې

چې مېلمانه دې کوربانه شي واک راخپل کړي د کور
ته په خپل کور کې مېلمنه شي وایه بیا به څه کړي

چې غل قاضي شي او قاضي د غلا په تور تورن شي
جوړه ښکاره مقدمه شی وایه بیا به څه کړي

چې د سبا ستوری ماښام راخيژي نه وي رڼا
که د تقدیر دا فیصله شي وایه بیا به څه کړې

تخیل او حقیقت

یو ویل شاعر دی تخیل کې ګرځي
د حقیقت سره[1] سروکار نه لري

بل ویل نوښت د تخیل محصول دی
بې له نوښته ژوند بها نه لري

تل تخیل په حقیقت بدلیږي
قانون د ودې بله لار نه لري

چې د احساس لمبو کې ځان سوزوي
مینه سور اور دی خو انګار نه لري

چې تخیل ستوری موضوع کړه د شعر
په شاعر دا تور اعتبار نه لري

---

۱) سره

وړوکی پښتوال

د زاړه سوچ نه ځان وزګار کړه
نوی نوښت پلی په لار کړه

ښکلی وړوکی پښتوال یار که
د عشق له راز ئي خبردار کړه

پوه ئي د مینې په دستور که
په پښتونواله ئي سینګار کړه

چې پښتانه په یو مرکز راټول کړي
په خپل وطن کې ځان واکدار کړه

چې قام ولس کې ورورولي راولي
هر یو د بل ځیني ځان زار کړه

چې کلي کور کې تربګني ورکه کړي
ژوندون د سولې په کرار کړه

چې د پښتونګلان غوټۍ ونیسي
پښتون بلبل پکې چغار کړه

د پښتونخوا بېرغ اسمان ته جګ کړئ
چې پري بیا ستوری افتخار کړه

ګـــونګـــه ژبـــه

قـــلـــم مـــې بيـــا د لـــيـک په ګـونـګه ژبـه ګړيـده
دا ستـا د شـوخـو سـترګـو پـه صـفـت نـه مړيـده

لـفظـونـه د رنګـونـو ئـې راټـول سـتا د ښـکـلا کـړل
زرګـونـه ئـې راجـمـع کـړل بـيـا هـم بـه کـميده

تـصويـر ئـې د لـفـظـونـو جـوړوو دا ستـا د حسن
تـر نـيـمـې شـپـې لـګـيا و هـڅـو نـه سـتـړی کـيـده

د تـورو زلـــفـو شـــپـه کـې دې د مـــخ ډيـوه وه بـلـه
خـــالـــونـــه د تــنـدي دې لـکـه ستوری ځـلـيده

ځان پرستي

دا دستور د میني هر ځای کې چلیږي
معشوقه د عاشق خپل ځنګ کې خوښیږي

عاشق نه مني په مینه کې شریک بل
د خپل ځان احساس په مینه کې زیاتیږي

ستا د میني دود جدا دی ای وطنه
شریکان پکې ملګري ګڼل کیږي

چې په تا شو مه مین ښکلا پرست شوم
ځکه ځان مې ستا په مینه کې ورکیږي

راته وایه ته به ولی ښایسته نه ئې
چې دې ستورې د اوربل په سر ځلیږي

نوی ژوند

چې زړه د عقل کور ته لاړ شي د سلا لپاره
لکه د شمعې سوزوي ځان د رڼا لپاره

ټول پښتانه په یو ټغر یو نغري ټولوي
د نوي ژوند او د وطن د پر مختیا لپاره

د مینې جوړ شولو انسان په مینه پایي انسان
مینه پیدا کړه خدای د ژوند د پایښتیا لپاره

زړه چې د مینې وي خالي نو د نفرت به ډک وی
نفرت ابادي ورانوي، بد، دی هر چا لپاره

د وطن مینه کې که سوزی ستوری سوزه پکې
وطن لیلا ده سره دې ځار کړه د لیلا لپاره

برګودر

پټه خونه ده چې زه څه کوم د چا په خاطر
د برګودر لاره څارمه د اشنا په خاطر

هر مازیګر اشنا زما په دغه لار تیریږي
ګل ئې په غاړو کې کرمه د وفا په خاطر

منګی اوبو په سر ګډیږي مین سېل ته ورځي
پېغلې له مخه پلو لرې کړه د چا په خاطر

داسي نغمه شي چې بوډا زړه په مستۍ راولي
د ځوانۍ یاد ئې شي تازه ځوانې دنیا په خاطر

چې د ماښام ستوری راخیژي جانان کور ته راځي
د شپې تیارې بیا تیروي د سپین سبا په خاطر

د محبت سندره

زرې زرې مې زړه دی خو مې اوښکې نه تویېږي
که اوښکې تویومه نو اغیار پرې خوشحالیږي

توان د محبت او جذبو دواړه لرم زړه کې
نو ځکه مې احساس د پاکې مینې نه ځاریږي

زما د مینې تول څوک په ډبرو کوی نه شي
راجمع که ټول غرونه کړي بیا هم پسې کمیږي

په بڼ کې د پښتو به بیا بلبلې په ګډا شي
قامي وحدت ګلونو غوټۍ کړې دي غوړیږي

غوړیږونه که اغیار خپل غوځوي نو دائې وخت دی
زما د محبت سندره لا پسې جګیږي

دا ستورې د اسمان که څوک په کاڼو باندې ولي
په سر به ئې دا کاڼي له اسمانه راوریږي

سـربـازي

مینه پښتنه ئې په مستۍ ده، نه تمېرې
سرسره کړي لوبې سربازۍ ته روانېږي

خوي ئې د اوبو دی، چې هر یو لوښی رنګ نیسي
کلک دی د فولاد په شان چې رنګ ئې نه بدلیږي

وخت به بدلوي او نوی عصر راولي حتمي
دې د وخت غلام نه دی چې وخت سره ګډيږي

پته د جانان د کور خو ستوري ته معلومه ده
لاره که اوږده ده، په مزل باندې لنډيږي

د عقل پېمانې

پرخه د ګل په مخ پرته وه پاڼې نه ښکاريدې
بلبلان ګل ته په سجده وه زما ته ياديدې

زړه مې په خيال کې ستا د زلفو نه ټالونه جوړ کړه
د ځوانۍ هيلې را ژوندۍ شوې پکې وځنګيدې

چې په ټالۍ کې د پښتو ئې خوشبوئې خوره کړه
احساس د مينې کې د عقل پيمانې ماتيدې

ستوري ته ياد شو د ځوانۍ هغه خواږه وختونه
هر مازيګر چې تلې ګودر ته په دې لار تيريدې

د چینې اوبه

نه ماتوي تنده د شرابو پیالې مه راوړه
لاړ شه ساقي لاړ شه د چینې یخې اوبه راواړه

دا اوبه د جل وهولو تنده ماتولې شي
خیال ئې د جانان په تورو زلفو لوبولې شي
زور مستي د مینې محبت ئې پارولې شي
یو منګې په سر او دوه په غیږه کې درانه راوړه
لاړ شه ساقي لاړ شه د چینې یخې اوبه راواړه

زه ډیر زیات ستومان یمه له لېرې نه راغلي یم
دنګو دنګو غرونو په سرونو راختلي یم
ګل کرمه ژوند کې په تکل ئې راوتلي یم
ناخي به بلبلې صرف دیرال ورته بس ته راوړه
لاړ شه ساقي لاړ شه د چینې یخې اوبه راواړه

تا که ساقي چیرته بې شراب نشه لېدلې وي
اوړي کې شومړي زمونږ د کلي به دې سکلې وي
رنګ رنګ خمارونه ئې په هر ګوټ کې ساتلې وي
ستوری ته شومړو سره سوکړک او لږ سابه راواړه
لاړ شه ساقي لاړ شه د چینې یخې اوبه راواړه

د حـــرکـــت فـــلســـفــه

پـښـتـنـې مـور د ننګ ځانګو کـې ځـنـګــولــی یـمـه
پــلار پــه اوږه پــه غــرورغــو کــې ګـــرزولـی یـمـه

د پـت، ښـیـګـړی او وفـا ، پـتـکی بـه کـوز نـه کـړمـه
پښـتـون زلـمې یم په پښـتـو بـانـدې ښـاغــلـې یمه

د ازادۍ او خــپـلـواکــي نـــشـه پـــه سـر کــې لـــرم
د ســـر بــازی ډګــر تــه تـل پـه ګـډا تــلـلـــې یــمــه

ځـمه جـانـان پـسـې اخـر بــه ئـې د ځـان کـړمــه زه
د حـــرکـــت پـــه فـلـســـفـه ښـه پــوهـېـدلـې یـمه

سـتـوري یـوازې نـه دې هـر یــو انـډ یـوال ئـې وائــې
خـــدمـــت د قـــام او دوطـــن تـه مـلا تـړلـی یـمـه

د عشـــق کـــتــــاب

يار مې مالـيار دې مينې بـڼ کې ګل کرل غـواړي
د اغـزو جـرړی اوس لـه بـيـخـه راويستل غـواړي

بلبل پرېږدی چې د ګل بوټو کې سندری وائې
تورکارغان نه پرېږدي د باغـه ئې شړل غـواړي

د باغ پـه خـنده کې د فـن هـنر دېره جوړوي
د ازادی نـغـمه رباب کې غـږول غـواړي

چې د مجنون او ليلا عشق ورته حيران پاتي شي
پـخپلو وينو د عـشق سور کـتاب ليکل غواړي

خپلې پښتو ته د هسک ستوري سلامي ودروي
جنده د سولی جـګوي هسک تـه ختل غـواړي

يادونه: هسک جک ته وائې خو د بيتٓ نيکه په شعر کې د اسمان په مانا کارول شوېدي چې
هسک ولاړ دی درناوی کې پدې شعر کې هم د اسمان په مانا کارول کېږي

نوی کال

نوی کال نـدي چې زوړ سـوچ پکې ښاخونه کوي
نوی کال هـغه دی چـې نـوي سـوچ ګلـونـه کوي

چې سوچ زلمې شي لیکوالان د قلـم تـوره واخـلـي
د نـوی ژونـد د پـاره نـوی نـوښـتونـه کـوي

د نـوی کـال سره جـوړه چـې پسرلـې تـل راځـي
بـخـت د بلـبلو دې چې بـاغ کـې اتـڼونـه کـوي

چې سمه او غر پکې سمسورشي، اثـروکړی پـه زړه
غـم کـډه وکـړی خـوشـحـالی ځپـلـې زړونه کـوي

چـې عـاشـقـان پکې دمه شي د اوربل سوری کې
د لونګین خوا کې سینې په سر خـوبـونـه کـوي

چې زوړ زړه ځوان شي، بوډاګان هم پـه مستې راولـي
سـترګـې د زړه سـره روانـي شـي سیلـونـه کـوي

پـه ستوري بـانـدې نـوي کال، پسرلی هـلـه راځي
چـې پـښـتـانـه د خـپل یـووالـې تـړونـونـه کـوي

د بـــابـــا ژبـــه

مـیـن مــو لــبـاسـي شــولــو وفـائـي هـېـره کړېده
عشق کې زرپـرستـه شو ، ښـکـلا ئـې هېره کـړېـده

مـا سـره ئـې ځـو ځـلـي وعـده د راتــلــو کـړي وه
هسې انـتـظـاريـم ، وعــده بـيا ئې هـېـره کړېده

ښکلو سره لاړ زاهـد اوږدې تسپې پـه غـاړه کـړې
نورسـودا پـه لاس کـوي نسـيا ئـې هېره کـړېـده

ما ويـلي چې رنګ به د پښتو مېـني تـه ورکـانـدي
پوه نه وم پښـتو او پښتـونـخـوا ئـې هـېـره کـړېده

ستوري ويلې څه پرې که دېر شو د خوشحال خان لمسي
خـپـلـه خـــوږه ژبـه د بــابــا ئــې هــېــره کــړيــده

تـــو پـــانـــجـــال

اور بـــه بـــل کـــړي د رقـــيـــب پـــه زړګـــي بـــانـــدی
کـه يـــو ځـــلـــی شـــي مـــوســـکـــئ راتـــه وخـــانـــدي

ستا د زلفو توپانجال[۱] کې چې ځوک ګير شي
بـــيـــا تـــرې کـــلـــه نـــو وتـــلـــي شـــي د بـــانـــدې

کـــشـــکـــې زه دا ســـتـــا د غـــاړي لـــونـــګـــيـــن وي
ځـــنـــګـــيـــدلـــې دې هـــمـــيـــش پـــه ســـيـــنـــه بـــانـــدې

د کـــبـــيـــر ســـتـــوري بـــه هـــلـــه زړه د مـــه شـــي
چـــې اوده شـــي ســـتـــا د تـــور اوربـــل د لانـــدې

---

۱) توپانجال د مرغيو د نيولو يو ډول جال دي چې ډېرې مرغۍ پکې په يو وار نيول کېږي.

د وینو رنګ

خو به جانانه تا سره مینه په غلا کوومه
قسم دې نوره ئې په ډاګه برملا [1] کوومه

خلک چې هر څه وایې ودې وایې ، خولې ئې خپلې
نه د ناصح، نه د رقیب د خیال پروا کوومه

خیال که ساتم، جانانه ستا به ساتم ستا د مینې
د زړه له کومې نه لوزونه د وفا کوومه

ما خپلې مینې ته د زړه د وینو رنګ ورکړی
پښتون زلمی یمه پښتو به خامخا کوومه

بیګا چې ستوري و ولاړ او ته په بام راختې
په زړه دې څه وو دا پوښتنه اوس له تا کوومه

---

۱) ښکاره

پلو

په فن د مینې خوږولې شي ترخي خبري
تا په کندۀ تللې دې د خپلې خولې خبري

د پلو لاندی د جانان لور ته کتل دې زده دي
د زلفو دام کې د مینو رانیول دې زده دي
د محبت کیسي په زوره اوږدول دې زده دي
د کاڼی کرښي دې د مینې دا خوږي خبري
تا په کندۀ تللې دې د خپلې خولې خبري

ستا په خبرو کې نوښت او دلیلونه شته دي
د محبت او پت غیرت پکې رنګونه شته دي
د نوي ژوند د پاره نوي ارزښتونه شته دي
د وفا توکې دې جانانه ستا پخې خبري
تا په کندۀ تللې دې د خپلې خولې خبري

خپله پښتو مینه کې سر ته رسولی شي ته
ډګر د مینی کې له سره خپل دنګلی شي ته
ستوری شاهد دې چې د مینې دود پاللی شي ته
د پښتو ډکې دې د مینې ستا درنې خبري
تا په کندۀ تللې دې د خپلې خولې خبري

دیــدن

ددې ژونــدون سپـرلـي بـې تـه ښـکاری خزان جانانه
تا نه لوګی، تـا نــه شــم ځــار، تا نه قربـان جانـانـه

پـه خــوب کــې هـره شپه راځــي پـه وینښه هم که راشي
دا بـه پـه ما باندې احسـان وي ستـا بـې شـان جـانـانـه

بې ستا د یاده مې بـل یــاد پــه زړه کـې ځـای نلـرې
ستا دې قسم وي هېر دې نه کړي خپل جانان جانـانـه

مـــا درتـــه لاره کــې ګـلــونـــه درېـــدی کـــرلـــی
داستـا دیـدن مـې د زړګی دې لوی ارمـان جـانـــانـه

هـر شـپـه ســتوري مـا او تـا تـه غـلـي غــلــي ګـوري
زمـونـږ د مـیـنـې او وفـــا لـیـکـي داستـان جـانـانـه

د نظر آزادي

خومره به ښه وي چې د مينې ډک ژوندون جوړ کړو
دا وران ويجاړ او کنډواله کور د پښتون جوړ کړو

چې د خپل کور واک کړو راخپل او بيا واکمن شو د کور
د پر مخ تګ او سوکالۍ په لورې يون جوړ کړو

چې د پښتو د پسرلي ګلان غوټې ونيسي
په يو ټغر د ټولېدو قامي ترون جوړ کړو

چې د پوهنې قافيلې پکې شاډوله کوي
د قام اولس په ژوند کې داسې اوښتون جوړ کړو

چې عاشقان پکې راغونډ وي ټول د عشق ښوونځی کې
د سوچ او فکر آزادۍ د عشق مضمون جوړ کړو

چې د نظر د آزادۍ ستوری ځلېږي پکې
په پابندۍ وي پابندي داسې قانون جوړ کړو

داستان

اسماني کتاب کې مالوستي بيان
چې تعبير شته د خوبونو دانسان
د خوبونو يوه کيسه درته کوومه

پېښه شوې ده په ملک کې د کنعان
د يعقوب عليه السلام دولس ځامن و
خو په ټولو کې يوسف و ورته ګران

لا يوسف عليه السلام کوچنی ماشوم و
چې يو خوب ئې ولېدلو په دا شان
لمر سپوږمۍ، يوولس ستوری شي راټيټ

په سجده شي ده ته واړه همزمان
چې يوسف عليه السلام پلار ته خوب ووي
پلار ئې ډېر شولو په غم کې سرګردان

ويلی ځويه دا خوب ونه وايې چاته
هسې نه چې کړي د ګور دې بند بوان
لمر، سپوږمۍ دی پلار او مور ، ستوري دې ورونه

په تعظيم به دې پابند وی هر زمان
چې نور ورونه ئې د خوبه نه خبر شو
د وژلو د يوسف ئې جوړ کړو پلان

راغله پلار ته ئې ويل يوسف مونږ سره پريږده
چې سبا ته مونږه ښکار ته يو روان
پس له ډېرې زارۍ پلار ورسره پرېښود

ښکار ته ووتل ټول ورونه ئې ښکاريان
هغوی دې ژور کوهي ته ورګوزار کړ
خو يوسف د کوهي ډډ ته بچ کړ ځان

پلار ته ورکړلو دوی دا رنګه خبر
چې لېوه وخوړ يوسف ، راغله لېوان
چې يوسف کوهی کې دری ورځې کړې تېرې

خدای په دغه لاره راوسته کاروان
چې کوهي ته ئې بوکه خپله ګوزار کړه
د اوبو په ځای راوخته يو ځوان

ځوان ئې مصر ته بوتللو له کنعانه
هلته بل له سره پېل شولو داستان
اسماني کتاب کې مالوستې بيان

چې تعبير شته د خوبونو د انسان
د کاروان خاوند يوسف په عزيز خرڅ کړ
ډېر مالدارو، خوئې نه لرل بچيان

عزيز وويل زليخا ته، ای مېرمنې
د يوسف سره چلند کړه مهربان
زليخا شوه په يوسف باندې مينه

د عشق اور کې شوه ستې پتې سوزان
لاس ئې واچوو یوسف ته، شوه بې صبره
د یوسف کمیس ته ورسېده زیان

چې عزیز د دغه پېښنې نه خبر شو
په یوسف باندې ډیر زیات شو بدګمان
یو خپلوان ما شوم د دوئ غږ کړ زانګو نه

پړ یوسف دې ، که ئې څېری وي ګریوان
که ګریوان ئې څېری نه وي نو پړ نه دې
خو سره د دې یوسف شو بندېوان

په دې وخت کې د باچا ساقي، نانوایې
په الزام د زهر و شولو زندانیان
په دوی تور و چې ئې کړي اراده وه

چې په زهرو باچا ورک کړي له جهان
نانوایې او ساقي ولېدل خوبونه
چې یوسف ئې تعبېر وکړلو روښان

نانوایې په سر ټوکری وه د ډوډۍ
خو ډوډۍ تري نه تالا کاندې مرغان
ساقي وویل چې ما خوب کې دې لېدلې

بیا ساقي شم د مصری باچا ریان
پوه یوسف ورته خوبونه کړل مانا
چې یوه ته وه فایده، بل ته تاوان

یوسف وویل نانوایې ته په دار کېږي
غوښې ستا به شوکوي ځناوران
او ساقي به زرله بنده ځینې خلاص شي

د باچا به شي نوکر بیا هغه شان
څه وخت وروسته باچا خپله ولید خوب
چې تعبیر ته ئې راجمع کړه پوهان

باچا وویل، مالېدلي داسې خوب دې
چې اوه خوار غوایې وخوري چاق غوایان
او اوه وچ وږی راتاو شي اووه شنونه

دا شنه و.ږي کړی وچ کلک د ځان په شان
ویل پوهانو دغه خوب دې ډېر پیچلی
چې تعبیر ئې مونږ ته نه ښکاري اسان

ساقي غږ کړ چې په جیل کې یو زلمې دې
د خوبونو د تعبیرلري ښه توان
باچا وویل دا زلمې راولئ دلته

چې د خوب د مانا وکړم ترې پرسان
یوسف راغی باچا خلاص کړله زندانه
د باچا د خوب د راز شو ترجمان

یوسف وویل اووه کاله سو کالی ده
چې هر څه به وې ډېر تېر او پریمان
بیا اووه کاله قحطی ده راروانه

د هیڅ څه درک به نه وي په جهان
د مصریانو به تنګسه او ستونزی نه وي
سر د اوس نه که سپما کاندې شیان

باچا کړلو یوسف دې کار کې واکدار
چلېدلو ئې په ټول ملک کې فرمان
اسماني کتاب کې مالوستي بیان

چې تعبېر شته د خوبونو دانسان
چې عزیز مړ شو واده ئې زلیخا کړه
د یوسف شولو د مینې کورودان

قحطی راغله په جهان ، مصر اباد وو
هری خوانه به راتله سودګران
د یوسف ورونه خو هم مصر ته راغلل

چې ترلاس کړي ضروری د ژوند شیان
یوسف ورونه پېژندل خو دوی پوه نه و
ورسره به ئې ډېر زیات کوو احسان

بنیامین په نوم سکه ورور د یوسف و
د هغه بار کې پټ جام کېښود میزبان
په بهانه د غلا ئې بنیامین ایسار کړ

حکم وکړه پرې د مصر قانون دان
ورونو ئې وکړله زاری، خو کار ونه شو
نا امیده شولو، بار یې کړل اوښان

چې یعقوب علیه السلام په حال خبر شو
تودو اوښکو نه ئې جوړ شولو باران
چې ئې ورونه دوباره مصر ته راغلل

نو یوسف ورته ورو پېژندو ځان
ورونو ئې ورسو پلار ته دا پیغام
چې ژوندی دي یوسف ، ستا د زړه درمان

د پلار درد ئې شو بدل په خوشحالۍ کې
ویل لیدل مې د ځامنو دي ارمان
لنډه دا چې پلار او مور ئې دلته راغلل

شول مصر کې د پره تول خاندان
مور او پلار ، ورونه خدمت کې د یوسف و
لمر سپوږمۍ، یوولس ستوري د اسمان

اسـمانـي کـتـاب کـې مـالـوسـتـي بـيـان
چـې تـعـبـير شـتـه د خـوبـونـو دانـسـان

يادونه: ددې داستان متن د قران کريم د ديارلسمې (١٣) سپارى سوره:يوسف څخه اخستل شويدى عزيز د مصر يو مالدار سړى و چې زليخا ئې ښځه وه او ريان پدغه وخت کې د مصر باچا وو ددې داستان په نبشتون کې دا هم راپه ګوته کول ضرورى دي چې زه د ساپوهنى په رڼا کې د خوب مانا د يوه کتاب د ليکلو د پاره په څېړنه لګيا يم. د پوهنيز دود سره سم د څېړنى په نظرياتې برخه کې د خپلې وسې پورى ټولو هغه ليکنو ته نظر اچول پکار دي چې د خوب مانا په باره کې وي. پدې لړ کې ما د خوب ديني تعبيرونو ته هم باملرنه وکړه. کله چې د يوسف (ع) کيسه د خوبونو د مانا په تړاو کې ولوسته او بيا مې په ذهن کې راغونډوله نوددې داستان ځوبيته جوړ شو چې وروسته بيا بشپړ شو.

مستانه خندا

پـه ديـدن مـوړ نـه شـومـه غـور پـرې اشـنـا وکړه
سـتا دې قـسـم وي سـبـا پـيـښـه پـه ديـخـوا وکـړه

مـيـنـه پـه تـلـو راتـلـو زيـاتـېږي دا رښـتـيـا ده کـنـه
پـدې ښـه سـوچ وکـړه د زړه سـره سـلا وکـړه

مـا د ښـو پـه غـشـو مـه ولـه مـسـکـی شـه راتـه
چـې زړه مې مست کړي راسره مستـانـه خـنـدا وکـړه

بـې وفـا نـه شـي چـې د زړه د مـيـنـې کـور ورانـوي
د مـيـنـې ژونـد کـې د وفـا سـره وفـا وکـړه

کـه راتـلاى نـه شـي نـو د شپې د بام پـه سر وخـيـژه
سـتـورو تـه وګـوره پـوښـتـنـه تـرې ځـمـا وکـړه

د ځوانۍ رنګ

د ځوانۍ خیال دې چې خیالونه ئې تماشې ته راځي
پښتنې سوچ دې چې سوچونه ئې د پرې ته راځي

نوې نوښت دې چې د نوي وخت ریښې راسپړي
یو داسې ساز دې چې د بم نه زیر پردې ته راځي

څه معجزه ده چې کوډلې نه بنګله جوړوي
د مینې ځواک دې چې ځواکونه ئې سجدې ته راځي

رنګ ته د مینې ستورې زړه د وینو رنګ ورکړي
یو داسې رنګ دې چې رنګونه ئې ننداری ته راځي

د دنګو غرونو وطن

د ګلاب د ګل د پاڼو نه ښایسته ده
بختور یم چې مې وینه پښتنه ده

جوړه شوې ده د ننګ او له غیرته
په توکونو هم د پت عزت درنه ده

دا زما پښتو هم ژبه هم قانون دی
چې هر څومره پرې ګړېږمه خوږه ده

دا څما ښکلې وطن د دنګو غرونو
معجزه ئې د ښکلا هر دره ده

حاجت نه شته د ډیوې په نیمه شپه کې
د سپوږمۍ سره د ستورو بدرګه ده

د مینې هنر

په سترګو کې راګوري ناکراره افسانه
راځي زمونږه چم ته غلې غلې په بهانه

په خپل ښایست مغروره ده، ننګیاله مېرنۍ ده
پرون ئې د ناصح په سر کړه ماته پیمانه

منمه چې د مینې په هنر باندې پوهېږي
چې راغله میخانې ته، خماري شوه میخانه

غماز ته ئې ګواښ وکړ چې شړی دې که راغونده
بلبل پرېږده چې ووایې د مینې ترانه

د ستورو په رڼا کې زما مینه بیا تېره شوه
ښکارېږي راته داسې چې بدلیږي زمانه

خمار

موسم دی د ګلونو پسرلي دې نوبهار دی
راشه ای جانانه زړه مې تا ته انتظار دی

مستی دې بلبلې مستی مستی ګډاګانی کړي
مست به دې خیالونه شي مست شوی ټول ګلزار دې

خوند به د ګډا واخلی د ګل به ننداري وکړئ
دا موسم خو ټولو مو سمونو کې سردار دي

هره خوا رنګونه د ګلونو زړه رابښکوونکې دی
دروند نظر ګلونو ته خو خامخا پکار دی

ستوري سره جام به د وطن په نامه پورته کړئ
ټول محفل خمار دی ساقي هم خپله خمار دی

قسمت

پیښنه پېدې خوا وکه موسم د ګل تېرېږي
مینه محبت په تلو راتلو باندې زیاتېږي

ما د محبت پالګر ته لاس د قسمت ونیوه
وی ویل چې قسمت د ارادی په زور بدلېږي

چا چې د خپل ژوند د بدلېدو اراده کړېده
خامخا منزل د نوی ژوند ته به رسېږي

پاخېږه روان شه اراده د خوزېدو وکه
هغه ډنډ خوسا شي چې اوبه ئې نه بهېږي

ژوند خو حرکت دي وخوزېږه چې ژوندی اوسې
ستوری د قسمت به دې تورتم کې وځلېږي

سیل (۱)

ورشه تخیله سیل مې وکړه ماشومتوب کې
زه هلته ورتلی نه شم دوران د زلمې توب کې

دې پړاو د ژوند ته زه په ښځ بېرته ورتلې نه شم
دا قانون د ودی[۳] د قدرت زه بدلوی نه شم
اوس چې لوی سړی یمه بیا کوچنی کېدای نه شم
دغه کمزوري ده د سړی په سړیتوب کې
ورشه تخیله سیل مې وکړه ماشومتوب کې

وګوره چې چا د وطن مینې ته روزلمه
چا په پښتو ژبه، پښتونواله پوهولمه
چا به نازولم، چا به زړه پوري نیولمه
چا سره به لوبې کړلی ما په وړکتوب کې
ورشه تخیله سیل مې وکړه ماشومتوب کې

پام وکه چې چا به په ځانګو کې ځنګولمه
چا به په اوږه د قام دیرو کې ګرزولمه
چا به مازیګر د ګودر غاړی ته بیولمه
چا ستوري ته وښوده وفا په مینتوب کې
ورشه تخیله سیل مې وکړه ماشومتوب کې

---

۳) وده پرمختیا

سـيـل (۲)

ورشه تخیله سیل مې وکړه ماشومتوب کې
زه هلته ورتلي نه شم پداسې لیونتوب کې

دغه لیونتوب[1] ته زه په شا باندې کتی نه شم
دا قانون هېڅ کله په هېڅ حال زه بدلوي نه شم
اوس چې لوی سړی یم دوباره ماشوم کېدای نه شم
ورک رانه ښایست شو د ارمان په سړیتوب کې
زه هلته ورتلي نه شم پداسې لیونتوب کې

لوی شو مه سړی شوم ماشوموالی مې هېرېږي نه
خیال او تصور نه مې دا ستا ارمان بېلېږي نه
کوم هغه ساعت دی چې په غم کې مې تېرېږي نه
وینم تېر وختونه زه په ویښه او په خوب کې
زه هلته ورتلي نه شم پداسې لیونتوب کې

چا به په نازونو ډېره مینه پوهولمه
وګوره چې چا د وطن مینې ته روزلمه
چا به نازولم چا به زړه پوري نیولمه
ستوري وائي بیل شو د جذبو په پیغلتوب کې
زه هلته ورتلي نه شم پداسې لیونتوب کې

۱) لیونتوب د محبت په ژبه کارول شوی دی چې د احساساتو او جذبو ناکراری ده او دماغی خلل او د عقل نیمګړتیا نه ده.

د ځنګو دوعا

زمونږ د کلی ځنګو ورته دوعا کړیده
چې مرور جانان ئې بیا ورته خندا کړیده

زړه ئې د مینې او وفا په تار تړلی خوښ دي
ځکه ئې هر وخت کې د خپل جانان رضا کړیده

د مینې تور باندي چې دا مین په دار نکړی!
دې خو یوازې نه دي مینه خو هر چا کړیده

هغه د ښکلو د مالت مالیار کیدای کله شي
چا چې په مینه کې د سره او مال پروا کړیده

ګورئ ځنګلونو ته سیلونه د نښترو کوي
د کونړ غرونو په سره بیا ستوري رڼا کړیده

د وفا لور

زه د وفا لور یمه وفا لره پیدا یمه
ته که راته هر څه وائې ، زه به وایم ستا یمه

اوس که مینه ګرانه ده، خیر دی ګوزاره کوه
کله چې اسانه شوه، بیا به درته وایمه

بوج څما د ذهن خو د مینې اورسپزلی دی
زه لکه ډیوه په سوزېدلو کې رڼا یمه

ما دې بنګ کرلی چې خماره دا دنیا کړمه
لو که مې د بنګو ګډ کړ تا به ورته بیا یمه

ستوري چې د مینې فلسفې ډېري لوستلې دی
ما ته ئې ویلې چې هم مینه هم ښکلا یمه

د جانان سترګې

د نوی ژوند سندره ، میدانی ساز سره وایم
که هر څه را پیښیږي، د جانان سترګي مې ستا یم

جامونه جګوومه چې خمار مې لا زیاتیږي
خمونه تشوومه چې مستی تـه مې زړه کیږي
حجری سمبالوومه چې نغمې پکې غږیږي
د خپل سوچ تنګ تګور ته بې د مې خوښ په ګډا یم
که هر څه را پیښیږي، د جانان سترګي مې ستا یم

غیرت راویښوومه غیرتمنو په سینو کې
هنر ژوندي کوومه هنرمندو په ټپو کې
د ننګ ګلان ټومبمه د ځلمیانو په شملو کې
زه ډېر مین په پت، ښیګړه توره او وفا یم
که هر څه را پیښیږي، د جانان سترګي مې ستا یم

ګوره پاس آسمان ته چې په ستورو څوره ښکلې دی
دا د ننګ وطن په ټولو ښکلو کې ښاغلې دی
ما ئې په سیندونو، دنګو غرونو زړه بایللی دی
هره یوه دره ئې وایې زه ښکلې یم زیبا یم
که هر څه را پیښیږی د جانان سترګي مې ستا یم

د درخو خور

خدای ورکړي د ښایست او ښکلا زور
لګولی دي په زړونه باندي اور

پام کوه چي مور ئي نه شي را خبره
د مړوند بنګړي ئي ډېر زیات کوی شور

توری زلفی ئي کوړی کوړی ول ول دي
بختور دي چي په مینه ئي دی تور

د ادم درخو کیسه دی اوریدلي
د درخو راته ښکاریږي سکه خور

د شپي ستورو سره بام په سر جرګه کړي
په ناز ناز کراروي ورکوتي ورور

د وطــن نــاوی

مـا چــې پــخپل نـصیب ژړا کړه تری خندا جوړه شوه
تـا چـې خیــرې راتــه کولــې ترې دوعـا جــوړه شوه

خدای دې خیرې کړې درنه هیرې چې دوعـا کـوی تل
ستا په دوعـا بـانــدې زمــا د عـشق دنـیا جـوړه شوه

ما خـپل ارمان د بې وسی او رکې لوګي لـوګــي کـړ
د بې وسی نه مې د سوچ رنګ او ښکــلا جــوړه شــوه

مـا دوطــن نــاوې تــه خـپلـه شــنـه خـالـونـه وهـل
چا ویــل خیال دې چا ویل نــاوی پــه رښتیا جوړه شوه

چې خپل نصیب، ویـښ، د جانان پـه خواکې نه پرېښو ده
ځکه به ستورې ویل خوب کې پښـتونخوا جوړه شوه

تلوار

مازیګر دی یار دی ماته انتظار
لار اوږده ده ځما ځکه دی تلوار

دغا تول ګلونو بیا غوټۍ سپړلی
په ډاګونو کې بلبل کوي چغار

اوس به خنګ ماته چیتۍ د مینې لیکۍ
د لونګولو کې ګوتي پریکړی یار

کندولې د بنګو واړه بنګې مات کړل
چې مین شو مین خپله وي خمار

د پطر و کمیس د ستوري ډېر خوښیږي
چې نغمه ئې شي په لاره کې شرنګار

د ښکلا دری

د پښتون د کور لوګیه
شین اسمان ته پورته کیږه

وریځی راوله تیاره که   دا خپل ځان اوبه اوبه که
د رحمت شه بارانونه   په ډاګونو راوریږه
د پښتون د کور لوګیه
شین اسمان ته پورته کیږه

چې ډاګونه مو زرغون شي   ښاد آباد پکې پښتون شي
چې کري پکې ګلونه   غړ بلبل ته کړم نخیږه
د پښتون د کور لوګیه
شین اسمان ته پورته کیږه

د پښتون ښکلې وطن   دغیرت او ننګ چمن
خالی مه شه ئې سیندونه   اوبه تل پکې بهیږه
د پښتون د کور لوګیه
شین اسمان ته پورته کیږه

د ښکلا ډکې دری   چې لري درنې حجري
ښایسته ئې دی دنګ غرونه   غره په سر ستوری ځلیږه
د پښتون د کور لوګیه
شین اسمان ته پورته کیږه

د سرو شونډو خـــندا

نـن چـې بـې زړه يـمـه پــرون ئــې زړه زمـا وړي دي
خداى پرى خبر دى چې دا بيا کومې ښـکـلا وړى دي

په يو نظر ئې کړم بې خوده په ځان پوه نه شومه
دومره پوه شوي يم د سرو شـونــډو خــندا وړى دي

د خلکو خولو ته ځوک برغـولـى جوړه ولـى نـشي
خــو دا مـــنـم چــې وايه زړه خـپـلــې وفـا وړى دي

زړه خپله خوښـه کـړي پـه زور کـلـه د چا سره ځـى
پـه زور ئـې وړى نـه دي ، ښـه ئـې پـه رضـا وړى دي

کـه ئــې دا وړى زړګــــى راوړ بـيا بـه زړه وکــړمه
ســتوري تــه وبه وايــم زړه مــې ستا رڼـا وړى دي

شمله

رنګ ته رنګ د مینې ورکړه تازه کړه د یارانی رنګ
وخت روان دی نه ودرېږي نوی کړه د قافیلی رنګ

پښتو مخکې کړه جانانه چې کړنلار دې پښتنه شي
خپل قامې تشخص غواړه بدلوه د زمانې رنګ

د پښتو په لار روان شه د جرګو دود را ژوندي کړه
په جرګو تل بدل کړې مونږ د هر راز کشالي رنګ

د وفا تار کې امیل کړه د پښتو رنګ رنګ ګلونه
افضل خان ته ئې ډالۍ کړه چې ئې خوښ دې د جرګې رنګ

چې د ننګ او غیرت، بت «۱» کې هسک کې ستورو ته رسیږي
پام کوه بې پته نه کړي د پګړۍ او د شملي رنګ

۱) هغه مواد چې د پګړۍ شمله پرې نیغه ودریږي

د ځـــان قــاتــل

دروند بـار د اوښـانـو خو وړو کې مېږي وړی نه شي
ښکار خو د زمريانو کار دي، چرګه ئې کوی نـه شـي

ښـه ده ، ډيـره ښـه ده چــې پـه سـل ژبـو خبری کـړي
بـده خـو ئــې دا ده چـې پـه خپلـه ګـړيـدی نـه شي

دي د ځـــان قـاتـل دی، بـل دښـمـن تـه حـاجت نلـري
دا قـاتـل د ځـان خـو، د پښـتو پـکـار بېـدي نـه شـي

ښـکـاري ډېر نومونو کې ئې خپل پيژند بايللي دي
څوک چې خپل پيژند نـلرې بـل ئـې پـيـژنـدی نه شي

څو به د پـيـژند کړکيچ کـې ګـډوډ ، لـيونـۍ ګـرزي
نشت بـاندې حساب دی که لدې رنځ رغـيدي نـه شي

ستوري دا پـوښـتـنـه خـو څـو ځلـې لـه ما کـړيـده
دا څـنګه پښتون دي، چې پښتون ځان نومـوی نـه شي

د محبت قانون

د ننګ ډګر کې د قام مینې ته ځوانان ویښوي
د پطرو شور ئې چم ګاونډ کې عاشقان ویښوي

چې د بلبلو فریادونه بڼ کې پورته نه شي
د ګل د غله پسې ناری وهي، باغوان ویښوي

د باز په جاله کې تپس او کارغان کله پرېږدي
د کارغه ښکار پسې د غره تګړه بازان ویښوي

د محبت په قانون پوه ده په پښتو پښتو کړي
په غرو رغو کې پښتني غیرت ایمان ویښوي

ستوری به ولې بدرګه ورسه آسمان کې نه ځي
چې د پښتو په خوشبوي کې خپل جانانان ویښوي

د کونړ د سیند اوبه

چې مین خوک په وطن او په خپل قام دی
هغه تل مدام لایق د احترام دی

چې د زړه په غوږ ئې هر یو پښتون واوري
په سندرو او ټپو کې پروت پیغام دي

هنرمند او شاعران دی راغونډ شوی
ټنګ ټکور به حجری ګرمې کړي ماښام دي

سل خماره ئې په هر ګوټ کې پراته دي
د کونړ د سیند اوبو ته که دي پام دي

چې نشه د خپلو اکي ځوان کول ته ورکړی
ستوري خپله دی ساقي په لاس کې جام دي

پوښتنه او ځواب

د پوښتنی کول کار ساده اسان دي
خو پوښتنې ته ځواب ورکول ګران دي

ځوابونه دي ډیر کم پوښتنی ډیری
په پوښتنه ځما ، بوخت ښکلې جانان دي

د جانان نه ده، ما دا پوښتنه کړي
مرګ اخر دی د ژوندون که ژوند روان دي

که روان وي بیا ماده ده که مانا ده
که دا دواړه، د دنیا د ژوند په شان دې

د ځواب لټون کې ډیر شوی پوښتني
کبیر ستوري ځوابونو ته حیران دي

مرور یار

زر ځله ستا یم که ته یو ځل ویی ځما شه
راځه یاره پخلا شه ، تر څو به مرور ئې

چې ستا د مینې په تور تور شوم
لمبه لمبه شوم سوی سکور شوم
د رقیبانو د پیغور شوم
د رقیب مخکې شه راغاړه په خندا شه
راځه یاره پخلا شه ، تر څو به مرور ئې

دا خو متل دی داسې کیږي
یاری کې تل بنګړي ماتیږي
ستا به مړوند ، نه خالي کیږي
ځم بنګړي والې ته ویم بیا کاله ته راشه
راځه یاره پخلا شه ، تر څو به مرور ئې

د شپې چې بام ته وخیژمه
آسمان کې ستوري وویمه
پوښتنه ستا تری تل کوومه
پټ ورته وایمه ، جانان ته مې رښا شه
راځه یاره پخلا شه ، تر څو به مرور ئې

د ښايستــونو مــنجارو

زړه ځــما عـــشــق کـــې ســکـه ورور د پـتـنګ دی
چـــې داو کـړي ســر او مــال د قـــام پــه نـــنـګ دی

څــه حــاجــت مــې د ګـلــونــو شـــتـه بــاغــوانـه
چې جانان مې خپل ښـايسته د ګــل پــه رنـګ دی

ســــل خــــيـالــونـه بـه ئــــې زار کـمـه لــه سـره
چې ئې سوچ کې د ازاد ژونــدون غـــور ځــنـګ دی

چې دی زړه ســــتوري د يــار درکـــې خـيـر غـــوا ړي
مــنـجــارو د ښــــا يــسـتــونـو دي مـلـــنـګ دی

شاړبن

کـه چـرګ وهـی بـانـګـونـه کـه نور بـه سبا کـیږي
د شـپـې تـورې تـیـارې پـه خـورېـدو دی رڼـا کـیـږي

زه بـه د جـانـان دیـدن تـه بـیـا پـه خـنـدا ورشـمـه
لـوی کاروان د مـیـنـې د ژونـدون نـور روانـیـږي

را بـه پـسرلي شي وار بـه بيـا د خـوشـحـالـۍ راشي
نـاخـې بـه بـلـبـلـی پـه ګـلـبڼ کـې بـه ګـډ يږي

دا ستوری د اسـمـان پـه اشـارو کـې راتـه وائـې
دی شاړبڼ د پښتون غـوټې سپړېدي دي غـوړيږي

دروغجن

د دروغجن سره احساس وي د کمښت
چې دروغ خپله وسیله کړي د درنښت

دی د ژوند ددې قانون نه ناخبر دی
چې په دروغو ولاړ، شی ، نکړي پایښت

دا متل دی چې د دروغو مزل لنډ دی
اولس کړي مونږ ته هم دا سپارښت

ستوری وائي چې د چا وی دروغ عادت
د هغه بدبخت انسان نه دې سمښت

ریحان

څه حاجت مې د ګلونو د ریحان دی
چې جانان ځما ښایسته د ګل په شان دی

اوسي ځمکه کې ، خو ستوری د اسمان دی
د بوډا سره بوډا ځوان سره ځوان دی

سینګار

خدای راکړي ښایسته ښکلې جانان دی
چې په لاره د پښتو باندې روان دی

پیژندلی چې عاشق د پښتو شان دی
سینګار کړي په پښتو د عشق جهان دی

چې پښتون وي بې پښتو ورته ژوند ګران دی
په پښتو ئې تل د مینې کوروډان دی

لوګي کړې چې له خپلې پښتو ځان دی
هغه پاس ختلې ستوری د اسمان دی

د مینې زور

د مینې زور دی چې پخپله پښتو سر ورکوي
په ټول جهان کله د خپل وطن کمر ورکوي

پښتون زړګې ئې د پښتو نه بیلیږد لې نه شي
پښتو د پاره ستوری سور اور ته ټټر ورکوي

د عشق نغمه

ډيرو راته لاپي کړلي بريت ئي تاوول
وخت چې د ريښتوني شولو ټول وتښتيدل

ما د عشق نغمه راټيټه نکړه، لا مې جيګه کړه
اور د محبت کې مې دردونه وسيزل

درد شولو سنګک «۲» د مينې اور کې چې ستي شولو
هر څو که دردونه و، شعور ته نه راتلل

ستورو په اسمان کې مې د مينې ننداره کړله
ما چې عاشقان د مينې اور ته رابلل

۲) سنګک: کلک، سوړ

وفا

يتار د مېنې غروم، نوی دنیا د پاره
قانون د مینې جوړومه د سبا له پاره

احساس د مینې مې د خپلې پښتو لیرې نه ځي
له پښتو سر قربانوم د پښتونخوا له پاره

چې ورایز د نوې ژوند پکې سندري وایې
ملا مې تړلی ده د ژوند د خوشحالتیا له پاره

د غیرت زور مې بوډاګانو ته ځوانۍ وربخښي
د ځوانې مینې او وطن د پرمختیا له پاره

راشه چې ستوري سره وکړو مرکه د مینې
د مینې ژوند خو خدای جوړ کړي د وفا له پاره

یادونه: ورایز جنج، ورا

زړښت

څما هلته ژوندون ګران دی، چې ښایست او ښکلا نشته
چې ښایست رانه وانخلې، په زړښت مې پروا نشته

د زړښت دا بد عادت دی، چې ښایسته بدرنګوي
د بدرنګو په محفل کې ، زړه راښکوونکې مسکا نشته

ګرموي مه همځولو ، چې مین یمه په ښکلو
محبت مینه د ښکلو سره ، ګوره د چا نشته

په ځوانۍ کې شوه استاده د ښکلا په پوهنتون کې
پدې هر څوک ښه خبر دی، حاجت نور دوینا نشته

نیمه شپه مالت ته راغله څه چې مخې ته وروزو
هسک کې ستورې راختلې ، نو ډیوې ته اړتیا نشته

سندریز ماښام

خيال کې خواله درغلم نه وريبار
ستا د زلفو خوشبوی جوړ کړ بهار

ما د ژوند هره بیلګه ټپه ټپه کړه
سندريز ماښام مې تا ته کړو تيار

په نغمو او ټنګ ټکور مې ګرمه شپه کړه
وار هم راغي پکې ستا د يکه زار

په ټپو کې ستا تر غوږ مې تيرو له
چې له پټ او له پښتو به کړم ځان زار

چې ئې زړه کې وي د قام او وطن مينه
د هغه سره به تل ځمه په لار

نظر ئې د ظلم زور مې نه خوښيږي
که په سر کې وي د يار که د اغيار

نيت مې کړي په خندا ئې تيرومه
چې عمري راسره مل شو غم د يار

که بلبلی نڅا کاندي ورته غږ کړي
ستوري ډير وخت پس راواخيسته سيتار

سلما

دوړ کتوب دی راته یاد شولو خوارۀ وختونه
د واوا نوم کې دی ټومبلې و د ښایست رنګونه

تا به دودو سکلو لولو به شوي د مور غیږه کې
مور دې په سر سترګو منلې و هر راز نازونه

ته په خودې کې وي بې خوده خپله خوښه دی کړه
واوا شیان به دی د ځانه تاوول پندونه

ستا ژبه خپله وه د غټې په ژبه نه ګرېدی
د غټې د ژبې لندول به دې اړوده لفظونه

تا به پتوال ځیني پتو پوهیال نه پوه جوړ کړ
خو نور چې غټ څه کول ، تا به کړه هغه کارونه

چې پښتني سوچ سلما ستا دماغ کې وده وکړه
ستوري په سر باندې دی وشیندل دلې ګلونه

---

۱) سلما ځما لمسی ده چې ۲۲ / ۱ / ۲۰۰ نېټه پیدا شویده. پورتنی شعر د هغې د خاپوړوو د پړاو په کتنی ولاړ دی. سلما لوړ ژبني استعداد لري او اوس په خبره پوخیږي بل هم پخپله خبره پوهولی شي.
پوهیال او پتوال چې په پورتني شعر کې نومونه راغلې دی هم ځما لمسیان دې پوهیال په ۱۱/ ۳/ ۱۹۹۸ع او پتوال په ۲۲ /۸ /۱۹۹۹ع کال پیدا شویدې.

د مېينې قانون

چې جانان لوی شي پوه د مينې په قانون شي
زړه ئې پښتون، احساس پښتون، سوچ ئې پښتون شي

بيا به په عشق کې پسرلي د پښتونوالی راشي
ورځ به په لمر، شپه به په ستورو روڼ ژوندون شي

غلچکی

دا جنۍ چې کوی تا سره خندا
غلچکې ده چې د غلو نه کوی غلا

چې د غل د محبت نه ئې غلا وکړه
ستوری خومره ورکوی ورته سزا

د غیرت امتحان

تـوره او قـلــم راتـه مـیـراث پـاتـي لـه پـلار دی
زه قـلــم نـه تـــوره جـوړو مـه لــیـک مـې کـار دی

ول بــه د قـلـم د پـتـهـکـې ډک زه لـه غــیـرتـه کړم
بـیـا مـې د غـیـرت د امـتـحـان راغـلـي وار دی

ژبــه بــه د قـام او د اولـس خـپـلـه درنــه کـړمــه
ننګ که څوک کوي نو په پښتو بـانـدې پـکـار دی

لـیـک او لـوسـت پـخـپـلـه ژبـه لار د پـرمـخـتـیـا ده
هر قـام چـې اوچـت خـتـلـي، تـلـلـي پـدې لار دی

نه چې کړی پښـتـو په پښـتـو بـانـدې پښـتـون نــه دی
سـتـوری دا پښـتـو خو د پښـتـون ډول سینـګـار دی

د عـــشـــق مضمون

راځـې ملګـرو چـې د مینـې ډک ژونــدون جـوړ کړو
دا وران ویجاړ او کنډواله کور د پښـتـون جـوړ کـړو

چې د خپل کور واک کړو راخپل او بیا واکمن شو د کور
د پـرمــخ تـګ او سـوکـالـۍ پـه لـوري یـون وکـړو

چې د پـښـــتو د پـسـرلـــي ګـلان غـوټـۍ ونـیــسي
پــه یــو ټـــغــر د ټــولــیـدو قـامـې تړون جـوړ کړو

چـې غـم غمګـیـن او خوشحالۍ پـکـې شـاډوله کوي
د قام اولس پـه ژونـد کـې داسې اوښـتـون جـوړ کړو

چې عاشقان پکې راغوند وي ټول د عشق ښوونځي کې
د سـوچ او فـکـر ازادۍ د عشـق مـضـمـون جوړ کـړو

چـې د نـــظـر د ازادۍ ســتـورې ځــلـیـږي پـکـــې
په پـابـنـدۍ وی پابندي داسـې قـانـون جـوړکـړو

سندره

ډېره راتـه ګرانـه ده چې ښکلی بې مثاله ده
بيا چا لمسولی د ښايست ملکه ماله ده

ما تـه ئې ويلی چې کتاب دی خيرومه
تا د محبت سندره بيا ليکلی چاله ده

مينه دي منمه د وطن او د پښتو سره
بله معشوقه کله ځما د ښايست سياله ده

ما ورته ورغبرګه کړه چې تـه مې د سوچ ناوی ئې
کله مې سندره بيله شوی ستا د خياله ده

ستوری «سندريز پيغام» کې ښه په ګوته کړيده
هر يوه سندره ئې ليکلې بس دا تاله ده

ولولې

تیري چې د ژمي اوږدې شپې شولې
بیا پسرلي راغی ونې شنې شولې

رنګ مې ستا د شونډو ګل کې ولید
مستې مې د مینې ولولې شولې

زه د ګل د مخ په تماشه وومه
سترګې د بلبلو راپسې شولې

سوچ مې د بلبلو سره ونخل
جوړې د ګډا مسابقې شولې

ستوری مې د بخت اسمان کې وځلید
بیا په رقیبانو زلزلې شولې

خاطر

خله مې پوښتی چې مې څه ښه لګي دی
ما د کونړ د سیند اوبه ښې لګي دي

د ازادئ په کې نشه پرته ده
ما تل په لپو له ویاله ښې لګي دي

چې د وفا او مینې دود پالمه
د پښتنې مور مې شده ښې لګي دي

د خوږو خوند بانديې هغه پوهیږي
چې ئې ټول عمر کې ترخه ښې لګي دي

اوس مې لږ خواته رانږدې که کنه
ستا په خاطر خو ما هر څه ښې لګي دي

ساقي چې ستا په فرمایش جام راوړ
ستوري په سترګو او لیمه ښې لګي دي

د پوهنې دېره

د پښتونخوا د پوهنې دېره په دې فخر او وياړ کوي چې د خپلو کوښښونو په ترڅ کې ئې په ډېر لږ وخت کې د پښتو ژبې د شعر او نثر يو شمير کتابونه چاپ او لوستونکو ته وړاني کړل، برسيه پردي د پوهنې دېرې تل هڅه کړې چې د پښتو موسيقۍ ماښامی او پروګرامونه د نامتو سندر غاړو په خوږو اوازونو جوړ او د موسيقۍ مينه والو ته وړاندې کړې، غواړو چې بل ځل بيا د خپل زيار انځور نه ستاسې له نظره تيره کړو.

١ . ګلپانه (شعري ټولګه) شاعر: مبارز ځاپې

٢ . د قلم توره (شعري ټولګه) شاعر: ډاکتر کبير ستوری

٣ . ژوندی وزر (شعري ټولګه) شاعر: ډاکتر ديدار يوسفزی

٤ . مرغزار (شعري ټولګه) شاعر: محمد حنيف قيس

٥ . لعلونه (د سوات او ملاکنډ د شاعراونو تذکره) ټولونکي: رحيم سيد او اختر ملک

٦ . ډالۍ (دحمد بابا او علی خان بابا منتخب کلامونه) ټولونکی: لايق زاده لايق

٧ . ماته ائينه (افسانی ليکوال: لايق زاده لايق

٨ . يادونه (شعري ټولګه) شاعر: ابراهيم بيداروال

٩ . ژوند او جانان (شعري ټولګه) شاعر: سعيد الله خادم

١٠ . راښکلی غشی (شعري ټولګه) شاعر: ډاکتر ديدار يوسفزی

١١ . د هوښيار تيا تله (ساپوهنه) ليکوال: ډاکتر کبير ستوری

١٢ . ژبسا پوهنه (سا پوهنه) ليکوال ډاکتر کبيرستوری

١٣ . زر پاڼه (شعري ټولګه) شاعر: مبارز ځاپې

١٤ . زرغون زيری (د ما شومانو نظمونه) شاعر: ډاکتر ديدار يوسفزی

١٥ نسکوری لپې (د هائيکو مجموعه) شاعر : ډاکتر ديدار يوسفزی

١٦ . پرخه په پرخه (شعري ټولګه) شاعر: حنيف خليل

١٧ . مړاوی ګلونه (شعري ټولګه) شاعر: سليم خټک مرحوم

١٨. د پښتون / افغان قامی جرګه (مقالی اووينا ګانی)

١٩ . خړ ماښام (شعري ټولګه) شاعر: عبدالله وحيد

٢٠ .چونګ ملغلري (د مختلفو شاعرانو منتخب شعرونه) ټولوونکې حميد اقبال ګلرنګزی

٢١ . مشکنی (شعري ټولګه) شاعر: لايق زاده لايق

٢٢ . پونه (شعري ټولګه) شاعر: اقبال حيران

٢٣ . پړونی (دريېيو څخه خپری شوی ډرامی) ليکوال اقبال حيران

۲۴. لمبې (شعری ټولګه) شاعر:
۲۵. تاله میدان (شعری ټولګه) شاعر: ډاکتر دیار یوسفزی
۲۶. زغو کې پسرلی (شعری ټولګه) شاعر: طماس افریدی
چاپ ته تیار کتابونه
۲۷. د هوښیارتیا بې پلوه تله (ساپوهنه) چاپ ته تیار په انګلیسی، جرمنی او پښتو ژبو لیکوال: ډاکتر کبیر ستوری
۲۸. د هوښیارتیا نا پیلی بې پلوه تله (ساپوهنه) په انګلیسی، جرمنی او پښتو ژبو لیکوال: ډاکتر کبیر ستوری
۲۹. د افغانستان تاریخی حوادث لیکوال: عطا محمد شیرزی
۳۰. خوب مانا (ساپوهنه) لیکوال ډاکتر کبیر ستوری
د پو هنې دېره هڅه کوی چې د ټول پښتنو لیکوالانو ، نثری ، شعری ، تحقیقې او علمي لیکنې د نورو زیاتوونو سره خپلو مینه والو ته د لوستولو جوګه کړی زمونږ دا ادبی کلتوری هلی ځلی به په راتلونکي وخت کې هم دوام لری او په دې هیله یو چې پښتانه لیکوالان به د خپلی ژبې « پښتو » له پاره خپل استعدادونه او صلا حیتونه په کار راولی، تر ځو دغه ننګیاله ژبه د سیالو سره سیاله شی

په درنښت

عبدالصیر بیدار

د پښتونخوا د پوهنې دېرې سیکرتر

خوښــــنه او مـــننه

هر ځل چې زه يو کتاب ليکم نو ګڼ شمېر ملګري راسره د مرستې پيرزوينه کوی. دا پيرزوينې ډيرې درنې دې چې زه ئې په خوښنه او مننه حق پوره کولی نه شم. خو په دې توګه سې ياد د ځان سره تازه ساتم.

په دی لړ کې زه تر ټولو د مخه د ښاغلي نسيم خان ستوری څخه خوښنه کوم چې د « سندريز پيغام » شعرونه ئې په کمپوټر په مينه ليکلي او هم د سنګر ستوری نه مننه کوم چې ځينو شعرونو په ليکلو کې مرسته کړی ده.

همدغسې د پښتو ژبې د پياوړو ليکوالانو او شاعرانو ښاغلی مبارز څاپی، ښاغلي عريز سرشار او ښاغلي عبدانصير نصير څخه ډيره ډيره مننه چې د « سندريز پيغام » د شعرونو ليک دود ئې کتلی او دا ډاد ئې راکړی چې په مانا ئې خلک پوهيږي.

تر ټولو زياته مننه د پياوړی شاعر او ليکوال د پيېښور د پوهنتون استاد او د راډيو او تلويژون نوميالي وياند ښاغلي فروفيسر اباسين يوسفزی، د کابل د راډيو تلويژون پخواني وياند ښاغلي همراز ننګرهاری او نامتو شاعر د راډيو او تلويژون وياند ښاغلي هدايت الله ګل څخه کوم چې د ښکلو پروګرامونو کوربانه او ويناوال و.

همدغسې د پښتونخوا د پوهنې د دېرې د مشر ښاغلې لايق زاده لايق، ستر سيکرټر ښاغلې عبدالبصر بيدار او سباوون د ثقافتی مرکز د مشر ښاغلې ګلاب يوسفزی د زيار څخه چې « د سندريز پيغام » د شعرري ټولګی د سبالښت چارې پغاړه اخستي او د پښتو ژبې نامتو هنرمندانو ته د رسولو او د هغوي سره په ګډه د موسيقې پروګرامونو د جوړولو په لاره کې زيار ويستلي دی ډيره ډيره مننه.


ددی هنرمندانو د نومونو ياد ضروری ګڼم چې « د سندريز پيغام » د کتاب ځينې شعرونه ئې په خپلو خوږو اوازونو کې د چاپ د مخه د مينه والو غوږونو ته رسولې دی.

پدې نښتون کې زه د ښاغلې ماسټر علی حيدر، استاد ګلزار عالم، پيغلي نازيه افبال او ښاغلو رضوان منور، سياګل مينا، شاه ځوان منور، ګل جان صادق، زاهدالله افريدی،استاد نواب، نورارحمن، رحيم ګل، غازی ا و فياض خان همدارنګه د ماسټر علی حيدر، استاد نذير ګل ، استاد مينا ګل، فرخ ريب نوشهروی، استاد صنم چې د موسيقۍ ټرونونه ئې کړی د پيرزوينو څخه ډيره ډيره مننه کوم.

په پای کې د ښاغليې عارف غرګی څخه ددې کتاب « سندريز پيغام » د چاپ لګښت ئې په غاړه اخيستې او د دانش کتابتون د مشر ښاغلې اسدالله ساپی د زيار څخه ډيره ډيره مننه

په درنښت

ډوکتور کبير ستوری
جــرمـــنـــی
۳۰ / جنوری / ۲۰۰۲



کبیر ستوری د ساینس پوهنې د کتور (Dr
(Diplom دپلوم ســـــاپوه .rer. Nat)
(Psychology په هلې پښتون په تېــر میرداد خېل
چې د پښتنو د یوســــفزو د پرکنې پورې اړه لري.
ستوری دلعل محمد خان زوی او د بري پښتونخوا
د کونړ د تنړ په کلي کې په ۱۷/۱/۱۳۲۱ هل کال
(۰۶/۰۴/۱۹۴۲ م) زېږېدلی دی.

ده خپله لومړنی زده کړه د خاص کونړ په لومړني ښوونځي او په کابــل کې د رحـــمان بابـــا په لېســـه کې او خپله لوړه زده کړه د جرمني د فرانکفورت، کولن او د ماربـــورک په پوهنتونونو کې د ســــاپوهنې (Psychology) په څانګه کې، چې فلسفه (Philosophy) سیاسي پوهنه (Pol.Science) او ټولنپوهنه (Socialogy) ورسره مل وه، سرته رسولې ده.

ســتوری د نړۍ د ســـاپوهانو په ډله کې ولاړ دی او د ۱۹۷۵ م کال راهیســـې د کړنې د ســـاپوهنې د نړیوالې ټولنې (International Association of Applied Psychology) غړی دی. ستوری د پښتون سوشل دیموکراتیک پارټۍ (PSDP) مشر او ددې پارټۍ د بنسټ ایښودونکو مخکښانو څخه دی.

او د شـــاعرۍ په نړۍ کې تر ټولو زیات د پښتو د ادب د پلار اجمل خټک نه یې الهام اخیستلی دی. د پښتنو د یووالي، خپلواکۍ او سوکالۍ دپاره ده ته د باچا خان نظریو ژوند وربښلی دی.